sep. Oct. 1964



علمی اجتماعی او ادبی

تله (۱۳۴۳) لمرنی کال د (۱۹۶۴) عیسوی کال ستمبر او اکتوبر

شمیر	مضمون	لیکوال	مخ
۱	علی اکبر ایریدی او دهغه قلمی دیوان	ښاغلی عبدالله بختانی	۱
۲	پیرو ښان بایزید انصاری	د ښاغلی صیفی ترجمه	۱۶
۳	سخن مجلې ته یوه کتنه	عبدالرحمن بلوڅ	۲۸
۴	د پښتو آدب خوږې ..	واسعی	۶۴
۵	د افغانستان د ملی ژبې . .	د ښاغلی معتمد ترجمه	۵۳
۶	د محمد ګل مومند غمجنه مړینه	پوهاند رشتین	۶۲
۷	د جبو خلك	دولت محمد لودین	۷۶

امتیاز د پښتو ټولنی

مشر پوهاند رشتین

مسئول مدیر محمد صدیق روهی

نومیالی پوهان

ښاغلی عبدالله بختانی

علی اکبر اپریدی او دهغه قلمی دیوان

«ګلشن افغان»

دجولائی دمیاشتی په ۲۲ نیټه مونږ (د روسی ژبی دمعلمانو دکورس فارغ التحصیلان) دشوروی ارمنستان په مرکز (ایریوان) کښې وو. په دغه وزځ ملګری دښار ننداري ته ولاړل او زه رنځور وم او استراحت مې کاوه.

بیګاچه ملګری راغلل زمونږ معلمې او ددغه ګروپ لار ښوونکي (ګالینا کنتنتینا) په ډیر تاسف راته وویل:

بختانیه! ته نن نه وې او مونږ په موزیم کښې د پښتو اشعارو یو زوړ قلمی دیوان ولید. زما ملګری ښاغلی معتمد شینواری ددغه کتاب دهغه مخ نه چه ښکاره ایښودل شوی ؤ یو څه شعرونه رانقل کړی وو.

دا کتاب هلته دعربی او فارسی ژبو د قلمی اثارو په لړ کښې ایښودل شوی و او داسې معرفی کیده چه دا دیو عربی شاعر داشعارو دیوان دی.

نهار په دې ښار کښې زمونږ کوم مرتب پروګرام نه ؤ او ملګرو

ازادانه د ښارسیل کاوه اوځینو دمه کوله. زه د (کالینا کستنتینیا) په لار ښودنه او د ارمنستان د دوستۍ ټولنې دیو غړی په ملګرتیا موزیم ته ولاړم.

دموزیم درئیس په اجازه داکتاب ماته وسپارل شو اوما هلته په موزیم کښې وکوت.

داموزیم په ارمنۍ ژبه (ماتینا داران) نومیږی چه پښتو ترجمه یې دقلمی کتابونو دساتلوځای کیږی.

داموزیم دارمنستان دعلمی تحقیقاتو انیستیتوت پوری مربوط دی چه دغه علمی انیستیتوت بیا دشوروی ارمنستان دوزیرانو په شوراپورې اړه لری.

لکه چه دنامه نه یې ښکاري په دې موزیم کښې دمختلفو ژبو قلمي اثار ساتل کیږی دغه اثار په ۱۹۳۷ ع کښې دارمنستان دیو واړه ښار (ایچمیآدزین) دیوې کلیسا نه چه هغه هم (ایچمیآدزین) نومیږی دغه موزیم ته رانقل شوی دی.

زمونږ دعلاقې ډېر کتاب هم په دغو کتابونو کښې او د موزیم دکارکوونکو دوینا له مخې په ۱۷ پیړۍ کښې لیکل شوی دی.

دکتاب په پای کښې یو لنډ حکایت لیکل شوی دی چه املاء یې دکتاب د متن سره فرق لری. دغه حکایت داسې پای ته رسیږی «مضمون بدست سلك کلك محقر ابو الخیر قلمی شد سنه ۱۲۷۷».

دکتاب په نور وبرخو کښې دهغه دلیکلو کومه نیټه پیدا نه شوه خودپورتنی عبارت نه داراوځی چه دکتاب متن ضرور په پورتنۍ نیټه یا ترهغه دمخه لیکل شوی دی.

دکتاب مؤلف په مقدمه کښې خپل اصل او نسب داسې معرفی

دا دشوروی ارمنستان مرکز د(ایریوان) په ښار کښې (دقلمی کتابونو دساتلو) موزیم دی .
دروسی ژبې د معلمانو دکورس فارغ التحصیلان، دعلی اکبر اپریدی داشعارو قلمی دیوان کوری .
ښاغلی معتمد شینواری دغه کتاب خپلو خارجی ملګروته ورښیی .
په دې پړله کښې: دفرانسې، هند، کولومبیا، سیلون، قبرس، یوروګووا، ډنمارک یونان، فینلنډ، افغانستان ، بلجیم، استرالیا او استریا شاګردان ښکاری.

کړی دی (علي اکبر بن قاسم خان اورکزی قوم افغان ساکن تیراخیبر) . شاعر دغه پښتو شعرونه دخپلې ځوانۍ په موده کښې لیکلی دی، ډیر ساده، روان اوعام فهمه دی . اشعار یې اکثراً درحمان بابا داشعارو په وزن اودهغه سبک ته نژدې دی . په نورو وزنونو غزلونه، ترجیع بندونه قصیدې اورباعیات هم لری .

دکتاب صفحې نومرې نه لری . داشعارو په کسر کښې یې خپل لنډ نوم (اکبر) ذکر کړی دی . ځینې شعرونه یې کسر نه لری خو دهغه په ځای دغومره ځای چه یو بیت پکښې لیکل کیږی سپین پاته دی . په منځ کښې ځینې صفحې اوپاڼې هم سپینې دی . کتاب د مردف دیوان په شکل نه دی بلکه محض د مسودې او بیاض رنګ لری . داسې ښکاری چه پخپله دشاعر په قلم لیکل شوی دی .

کتاب په نستعلیق، ښکلی او پوخ خط لیکل شوی دی. دلیک دود په برخه کښې د (خ) په ځای (ع) د (کښې) په ځای (کښ) اود (ګ) په ځای (ك) لیکل شوی دی . د (ښ ږ) تورې یې همداسې لیکلې دی لکه مونږ یې چه اوس لیکو (زه ، زما) یې (ځه ، ځما) لیکلې دی . له پښتو اشعارونه د مخه د پارسی شاعرانو یوځو شعرونه دی اود پښتو اشعارونه وروسته درحمان بابا یوشعر هم شته . ورپسې بیا دشاعر یوه بله پارسی منظومه رساله ده چه (شاه شاهان) نومیږی او د (حضرت شاه نقشبند) په ستاینه کښې ده . بیا په فارسی نظم د (نسب نامهٔ شاه نقشبند) په نامه بله رساله ده ، وروسته بیا دشاعر، دوخت د پادشاه په خپله دده د سفرونو، ددوستانو اودښمنانو په باره کښې په پارسی ژبه منظوم حکایتونه دی چه داټول دده خپل آثار دی او په یو راز لیک دود لیکل شوی دی .

دپښتو اشعار یې په پارسی ژبه یوه مقدمه لری. مادغه مقدمه رانقل کړې ده چه دهغی نه په پارسی نثر کښې د شاعر قلمی قدرت، دهغه دمعلوماتو اندازه، دشعر او پښتو ژبې په باره کښې د هغه فکر اونظریه ښه څرګندیږی . په دغه موجوده اشعارو هم تبصره کوی اودهغو دلیکلو اوراټولولو سبب او وجه ښیی .

دابه بده نه وی چه ددغې مقدمې متن اودهغې پښتو ترجمه ښاغلو لوستونکو ته وړاندی شی :

متن	ترجمه
بسم الله الرحمن الرحیم	دخدای په نامه چه ډیر مهربان اوبارحمه دې .
الم - ذلك الکتب لاریب فیه	داکتاب دی چه شك پکښی نشته .
لله الحمد قبل کل کلام .	ترټولو خبرو دمخه دخدای ثناده .
بصفات الجلال والاکرام .	دهغه د لویوالی اوعزت دټولو صفتونو سره .
سپاس و ستایش بی پایان وحمدوثنای فراوان مرمتکلمی را سزاوار است که زبان هر حامد بچند ین لغات مختلفه گویا گردانید و هر قومی را معنی لغات تازی و دری و افغانی دانانید .	بی اندازی شکر او ستاینه اوډیر حمداوثنادهغه متکلم (غږیدونکی) وړده چه دهر ثناویونکی ژبه یې په څو مختلفو لغتونو چلولې ده . اوهرقوم یی دعربی ، دری اوافغانی ژبو په معنی پوه کړی دی .
ملکی که منشور وجود انسانرا به طغرای (الشعراء تلامیذالرحمن) مزین ساخته - فرمان فرمایی که	هغه پادشاه چه دانسان دوجود فرمان یی په دی مهر بنایسته کړی دی چه : (شاعران دخدای شاگردان دی) .

رتبه شعر را به خلعت (ان من الشعر لحکمة) برافراخته سخن شناسان در معرفت کنه صفاتش مانند گوی سرگردان، معنی فهمان درادراك حقیقت ذاتش طفلان ابجد خوان و صلوات نامعدود و تحیات غیر محدود برقایل (انا افصح العرب والعجم) مجمع حدوث و قدم مظهر اتم سلاله اولاد ادم خلاصهٔ اهل عالم که هر قومی را دعوت وتبلیغ رسالت بزبان او میکرد که (وما ارسلنا من رسول الا بلسان قومه) واهل زمین چه شه وچه خان چه چغتا وافغان بموجب فرمان واجب الاذعان او روی به اسلام آورد و برآل واصحاب او که پیشوایان دین اند وبر پیروان آنها که خداوندان یقین اند صلی الله علیه و علیهم اجمعین .

درود بی نهایت برمحمد .
رسول اکمل واعلی وامجد .
هزاران منقبت برچاریارش .
چهار ارکان دین استوارش .

هغه فرمان لرونکی چه دشعر رتبه یې په دې خلعت لوړه کړی ده چه: (بیشکه بعضی شعر حکمت دی).

دخبرو پوهان دهغه دصفتونو دحقیقت په پیژندلو کښې دپناوسکی غوندې سرګردان دی او معنا پیژندونکی دهغه د ذات دحقیقت په ادراك کښې الف ، ب لوستونکی ماشومان دی .

بې شماره درود او بې اندازې تحیت دې پرهغه چاوی چه ویلی دی: زه دعربو او عجمو ډیر فصیح یم. دحدوث اوقدم مجمع اود بنیادم دنسل ښه مظهر او دنړۍ د خلکو خلاصه چه هر قوم ته یې دهغوی په ژبه درسالت دعوت او تبلیغ کاوه چه:

(مایو پیغمبر هم نه دی لیږلی مګر دخپل قوم په ژبه) او ددنیا خلکو څه پادشاه او څه خان څه چغتا او څه افغان د هغه دفرمان په سبب اسلام ته مخه وکړه او دهغه پرکورنۍ او ملګرو چه ددین لارښودونکی او دیقین خاوندان دی. دخدای رحمت دې وی پرهغه او پرټولو هغو باندې!

بې اندازې درود دې پرمحمد وی چه ډیر کامل، ډیر لوړ او ډیر لوی پیغمبر دی. په زرهاؤ ستاینه دهغه دخلورو ملګرو .

بعده بر رای عقلای عالم روشن
است که تصنیف کردن و به تالیف
مشغول شدن کاری بزرگ و امری
خطیر است به تخصیص جمع و ترتیب
لغت افغانی که نادر الاستعمالست
و محاورهٔ ارباب قیل وقال نیست
ومصنف بیچاره به اندك تقصیری
بمضمون (من صنف قد استهدف)
نشانه تیر ملامت سلف وخلف گردد
وخاصه کسی را که راه این فن
دشوار را گاهی طی نه کرده باشد
وپیش کسی از سخنوران استفاده
ننموده و حرف جهل و نادانی
به کزلك صحبت شعراء از صفحه
خاطر نسترده و از ناموزون به
موزون پی نبرده باوجود این فقیر
احقر مولای سید بشر علی اکبر
بن قاسم خان اورکزئی قوم افغان
ساکن تیراه خیبر در حداثت سن
واوان طفلی که طبیعتش
مانند کف مفلسان از نقد

چه دهغه د کلك دین څلورستنې دی.
وروسته تر دې د نړۍ هوښیارانو ته
ښکاره ده چه تصنیف کول او په
تالیف بوختیدل یو لوی او خطرناك
کار دی په تیره بیا د پښتو ژبی
ټولول او ترتیبول ځکه چه استعمال
یی کم دی او دقیل وقال دخاوندانو
محاوره نه ده او بیچاره مصنف په
لږ کمی د مشرانو او کشرانو
د ملامتۍ د غشی نخښه ګرځی.
په تیره بیا هغو ته چه کله د دغه
مشکل فن په لار تللی نه وی او د نورو
خبرلو څو نه یې استفاده نه وې کړی
او د ناپوهۍ توری یی د شاعرانو
د صحبت په وجه د زړه له صفحې نه
نه وی توږل شوی. او د ناموزون
او موزون فرق نه شی کولی سره
د دې هم دا خوار فقیر .. (۱)
علی اکبر د قاسم خان
اورکزئی زوی په خټه پښتون
د تیرا د خیبر او سیدونکی د عمر
په ابتدا او د ماشوم توب په موده
کښې په داسې وخت کښې چه طبیعت

(۱) مولای سید بشر ـ دلته (مولا) دغلام او نوکر معنا لری او سید بشر غالباً
حضرت پیغمبر (ص) ته اشاره ده. (ب)

فن شاعری عاری بود و مخزن سینه‌اش از دنانیر مضامین ومعانی خالی بفرمایش سلطان شوق به تسوید غزلی چند بزبان افغانی که محاورهٔ اسلاف و مانوس الاستعمال بود چند صفحه را سیاه ساخت و بر رقعات متفرقه مرقوم شد وسمت تحریر یافت .

غرض نقشی است کز ما یاد ماند
که هستی را نمی بینم بقائی

اما بنظر ثانی منظور نشده وصحیح از سقیم ممتاز نگشته چه ارادهٔ جمع کردن نداشت ومانند بنات النعش همچنان منثور و پریشان کزاشت بعدازان درعنفوان شباب در تعلم واموختن این فن نزد اکثری از اوالالباب سعی موفور به کار برده وهمت بر تحصیل ان صرف کرده رفته رفته بتائید ایزد بیچون ابواب این علم مفتوح گشت ونقش این فن درسویدای دل کالنقش فی الحجر نشست مسایل علم شعر در خاطر چنان حاضر شد که

مې د خوارانو لاس غوندې د شاعرۍ د فن نه او د سینې مخزن مې د مضمونو او معناګانو له پیسونه تش ؤ د شوق د پادشاه په امر په پښتو ژبه چه د تېرو محاوره ده او استعمال پې رواج درلود د څو غزلو په لیکلو مې څو صفحې تورې کړی او په بیلو بیلو پاڼو مې ولیکل .

مطلب یو یادګار دې چه پاته شی
ځکه چه ژوند پایښت نه لری

خو په دوهم نظر منظور نه شو او صحیح د غلط نه بیل نه شو ځکه چه د ټولو لو اراده مې نه لرله او د بنات النعش (کڼی) غوندې مې خواره واره پرېښو دل بیا د ځوانۍ په جوش کښې د دې فن د یادولو د پاره د ډېرو پوهانو سره د هغه په زده کړه کښې مې ډېره سعیه وکړه ورو ورو دلوی خدای په تائید د دغه علم درو ازې بیرته شوې او د دغه فن نقش مې په زړه کښې د کاڼې کرښه شوه .

د شعر د علم مسایل زړه ته داسې ولو یده چه یو دیوان مې په پارسی ژبه ولیکه چه (شاه شاهان) نومیږی

دیوانی موسوم به‌شاه شاهان بزبان
فارسی مشملبر غزلیات وقصاید و
ترجیعات تحریر یافت که طبع عالی
سخن‌سنجان آنرا پسند داشته اند
واذ کیا تخم محبت انرا درمزرع دل
کاشته پس ازان یقین شد که غزلها
ئیکه بزبان افغانی مسطور گشته
سر بسر حشو است وسراسر قابل نسخ
ومحو که نزد اهل فن وقعی ندارد
واین درخت جز خجالت ثمری نیارد
خو استم که بجمع و ترتیب ان
نپرد ازم وان اشعار را ازاوراق
دور اند ازم درین اثنا خردبسر
وقتم رسید وازین امر مانع امده
وگفت شاید جمعی کثیر ازطوایف
انام که در لغات ومحاورات وعقول
وافهام متفاوت اند ازین اشعار
بحظ وافر محظی ومحظوظ گردند
ونیز اشعار تو نتاج وزاد های
طبیعت اند بمقتضای مضمون :

فرزند اگرچه عیب ناکست
در چشم پدر زعیب پاکست

دور اندختن و نابود ساختن را

اوغزل، قصیدې اوترجیعات پکښې
دی چه دپوهانو لوړې طبعې ومانه
اوځیرکانو دهغه دمینې تخم دزړه
په پټی کښې وکاره وروسته مې یقین
راغی چه هغه غزلونه چه په پښتو ژبه
لیکل شوی دی ټول بیکاره اوسرتر
پایه دخط ایستلو اومحوه کولو وړ
دی ځکه چه دفن دخاوندانو په نظر
کښې هیڅ ارزښت نه لری اوداونه
پرته له خجالته بله میوه نه لری
ومی غوښتل چه ټول او ترتیب
یې نه کړم اوهغه شعرونه له پاڼونه
وغورزوم په دی وخت کښې هوښیارې
ځان را ورساوه اوددې کار نه
یې منع کړم اوویې ویل چه ښایی
چه ډیر خلك چه په لغتونو ،
محاورو عقل او فهم کښې یوتر بله
سره تو پیر لری ترې ډیر خوند
واخلی اوهم ستا شعرونه ستا طبیعت
زیږولی دی او :

زوی که هر څومره عیب ناکه وی
دپلار په نظر کښې دعیب نه پاك وی

نو دغورزولو او محو کولو

نشاید اطاعة لامره المطاع ان
اشعار راپروین مثال جمع نمود
وما نندگو هر بدستیاری غواص
فکرت ازقعر بحر طبیعت بساحل
کتابت رسانید. استغفر الله!
صدف پارهٔ چند بی اعتبار
کودکانرا لایقست نه پیران اصحاب
فن را ودیوانگانرا موافقست نه
هشیاران را ارباب سخن بالغ
نظران را بان کاری نیست وکامل
خردان را برین اعتباری نه بااین
همه از ناظران صاحب انصاف
چشم دارم که بمجرد دیدن چین
برجبین ننمایند وابروان را خم
نفرمایند وانگشت اعتراض برحرف
بجا وبیجا ننهند واگردست دهد
اصلاح ازدست ندهند که غرض
ازین تسوید سواد کورسوادانست
وآشنائی بیگانگان این زبان آنکه
گاهی شعر افغانی نشنیده بمطالعه
این دیوان در اندك زمان
برصاحبان این زبان ممتاز گردد
که متضمن فواید است امید از

وړنه دی نو دهغې دامر سره سم
مې هغه شعرونه دپیروونی غوندې
راټول کړل او دفکر دلامبوزن
په مرسته مې د امرغلری د طبیعت
دسیند دتل نه دلیکلو ساحل ته
ورسولی. توبه!
څو بې اعتباره کو دړی
د ماشومانو وړدی نه د مشرانو
اودفن دخاوندانو. اولیونو ته ښایی
نه هوښیارانو ته. رسیدلی کسان
ورسره کار نه لری او پوره
هوښیاران پرې اعتبار نه کوی.
ددی ټولو خبروسره د انصاف
دار و لوستونکو نه هیله لرم چه
دلیدلو سره سم وچولی تریونه کړی
او وروځی دې نه ځړوی او په
ځایو اوبی ځایو توروته دې ګوته
نه نیسی او که یی له لاسه کیده
نو اصلاح دې له لاسه نه ورکوی
ځکه چه دلیکلو مطلب بې سوادانو
ته سواد ښودل او ددې ژبی د
نااشنأ واشنا کول دی. چاچه پښتو
شعر نه وی اوریدلی ددې دیوان

ناظران این مجموعه آنکه مصنف بیچاره را بعد حصول فایده بدعای حسن عاقبت وخوبی خاتمت یاد نمایند .

الهی این نسخه را ازحوادث دوران محفوظ و مصنف را در هر دو جهان محطفوظ دار .

با اهل صفاش ره بر ه دار
و ز دست معاندان نگه دار
یارب نگاهدار تو ایمان انکسی
کین نسخه را بخواند و بر من دعا کند
الداعی من الکریم لا یخیب
انه تعالی یسمع و یجیب

وچون این گلدسته مشتملبر ازهار الفاظ رنگین ومتضمن اثمار معانی شیرین است بالقای حضرت یزدان به « گلشن افغان» موسوم گشت تاخاطر پژمرده بیگانگان این زبان بمطالعه آن طراوت ونضارت پزیرد .

په لوستو ډیر زرددې ژبې ویونکو ته ممتاز کیږی او دا ډیرې ګټې لری .

د لوستونکو نه هیله لرم چه دفایدې اخستلو نه وروسته بیچاره مصنف ته دښه عاقبت دعاوکړی .

خدایه! دا نسخه د دنیا له پیښو نه وساته او مصنف په دواړو جهانو کښې خوشحاله ساته .

دسپیڅلو سره یې په یوه لار لره !
او د دښمنانو نه یې وساته !
ای خدایه! ته دهغه چا ایمان وساته
چه دا نسخه ولولی او ماته دعاوکړی
غوښتونکی د کریم نه نه ناامید کیږی
لوی خدای اوری او دعا قبلوی .

څه رنګه چه د ګلو داکوده درنګینو الفاظو له غوټیو او د خوږو معناګانو له میوو نه جوړه ده دخدای پاك په القاء « ګلشن افغان » ونومل شوه څوچه د دې ژبې د نه پوهیدونکو مړ اوی زړونه دهغه په لوستو تازه شی .

دښاغلی مولف دوروستی دعاء او دځینو نورو عباراتو نه ما ته دامعلومیږی چه همدغه نسخه په خپله د مولف په قلم لیکل شوی ده خو په هیڅ ځای کښې دده لاس لیك، مهر یا بل ښکاره دلیل مې ونه موند .

اوس به هغه شعرونه وړاندی کړم چه ماله دغه کتابه را نقل کړی دی . داکتاب په دی شعر شروع شوی دی :

زړه مې بل هغه دلبر په اور دغم کا
چه مې ورك په دغه اورد ستر ګونم کا

هسې ماغوندې یې ډیر عالم خراب کړ
کر شمه و ناز پیشه چه یې صنم کا

د عالم په باب ژوندی له مړو بتریم
که څوك شمار زما په عین دعالم کا

سرومال تالا کوی پر وا یې نه شی
که جهان سره برهم په یوه دم کا

لکه دی کاندی دهر عاشق په باب کښې
دازل حکم نه لوحه نه قلم کا

په دغه ساعت یې زړه له مانه یووړ
اوس په خپله غلا انکار راوړی قسم کا

دسپین مخ په عکس هر شی ته چه ګوری
دمضمون په نمایش یی جام دجم کا

له تاثیره یی دمخ په زړه داغ یوسم
خال په بند دد واړو وروځو چه رقم کا

دعاشق دبخت سیاهی هغه نفس وی
چه دزلفو په سپین مخ باندی تور تم کا

محبت مې دزړه واك راخخه واخست
په طلب دخپل اشنا به مې څوك ګرم کا

هر ساعت به د یار ذکر کا په ژبه
که (اکبر) دزړه دزخم څوك مرهم کا

دابل شعرچه انتقادی رنګ لرې د کتاب له منځه اخستل شوی دی:

واقعات مې ووشمار کړی په ځان باندې
له هرچا مې خوار صورت پکښې ستومان دی
بارې دوردحکمت ؤ په کشمیر کښې
زه هاله اولاتر اوس کریمداد خان دی
منافقو ویل کړل کړی وو تر حده
اوس مختوری هغه کس چه بی ایمان دی
تر دامیان به یې په فساد کړلې خبرې
رو سیاه مردودمقهور دپاك سبحان دی
زه په بده کښې دهیڅ مومن پروت نه یم
دی کافر مې راضی ولې په نقصان دی
غرض نه لرم د هیچا په بدی کښې
څوك په څه پروت نن زما عاجز په زیان دی
زن طلاق حلال هرواړه پرې حرام دی
څوك چه ماسره کینه کالوی شیطان دی
په تمام عالم رسوا هم شرمنده شو
بدګویی مې چه څوك کا کوریې ویران دی
باړه خوری دخپلې لور یا د عورتې
څوك چه ما وته پاڅی یې په ځان دی
دښمنان مې تل دخدای په قهر غورځه
که پښتون مغل کافر یا مسلمان دی
بدخواهان مې خدای همه سره رسوا کړه
تارتکی که هرمنی ګبر مروان دی

چغلان مې رب په خپله روسیاه کړل
اورکزی که اپریدی یاسپی دهقان دی

اوس د یوې لویې قصیدې یوه برخه وړاندی کیږی . داقصیده دیو منظوم لیك په صورت لیکل شوې ده او داسې ښکاری چه له هنده لیږل شوې ده په قصیده کښې دشاعر دوستان اوخپلوان او دعلاقې وړ دپښتو نخوا ځایونه یادشوی دی .

باده الو ځه وطن ته په رفتار شه
د هرچاله حاله بیل بیل خبردار شه

لکهنو له ښاره کوچ و کړه بهار ته
په کټېر دپښتانه باندی ګزار شه

د وطن له پښتو نخوانه سلام و اخله
دباد شاه په لور روان نو په تلوار شه

هلته هم د عزیزانو خبر و اخله
په تعظیم ځنې رخصت په خپله لار شه

هغه لار چه د اشنا ده پری تیر یږ ه
دبل ځای منت اصلامه کړه هوښیار شه

برابر د خپل وطن په لارې درومه
په سرهند باندې چه وریشی قرار شه

معزالله ته مې سلام وکړه له بیر ته
نور په خپل مطلب روان ترې په کنار شه

په پنجاب دهر اشنا په کور وګرځه
له عشرت سره خوش طبعه د اشعار شه

چه کوم لور وته روان یې هلته درومه
داشنا مقدم هر چیر ته نګهدار شه

دجیلم له سینده پورې شه رو تاس ته
په هر ځای باندې ښکاره کړه ځان هوښیار شه
کوته پوشه جامه و اغونده لنډۍ
د مزریو د څپلیو طلبګار شه
له هوسه ټوپك واړوه په ولی
کج ران بانکه په لوری دکهسار شه

دغسی د اسلسله تر ګندا وه پوری رسوی او بیا په اخره کښی وایی :

ځای په ځای او غره په غره زما دپاره
په تیرا باندې پریشان او تار په تار شه
د (اکبر) سلام په هر چا باندی وایه
په دعامې یاد وی چه بر خوردار شه

دکتاب په پای کښی څورباعیات وو چه دایی نمونی دی :

زما د عمر چراغ به بل شی
که مې تر ستر ګو د خیال اور بل شی
تیاره رو ښنا کالیری ملکو نه
پر پټو ستر ګو د نیا غو بل شی

✲ ✲ ✲ ✲

بی دوا رنچ دی طبیب مې نشته
په سوال ګر ځم مجیب می نشته
پردیس وطن شو دیار مشتاق یم
(اکبر) رنځیږم حبیب مـی نشته

د شاعر داحوالو او اشعارو پوره تحلیل هغه وخت کیدلی شی. چه ټول کتاب مطالعه شي.

اوس راځو دې ته چه مونږ دغه شاعر پیژنو ؟

په خپله زه دده دنوم او دده دحالاتو او آثارو په باره کښی تردې دمخه هیڅ خبر نه وم ـ وروسته مې ځینی کتابونه هم ورپسی وتټول ـ لکه پټه خزانه، پښتانه شعراء (درې ټوکه) پښتانه لیکوال (دښاغلی همیش تالیف) ورکه خزانه (د ښاغلی همیش تدوین) او داسی نور په دغو کتابونو کښی راته ددې شاعر پته ونه لګیده. (۱)

ددې لامله چه ماوکولی شو چه ددغه نوم ورکی شاعر داشعارو دغه نا یابه نسخه (اوښایی چه منحصر به فرد وی) دځوساعتو دپاره مطالعه کړم ما په موزیم کښی د موزیم دکارکو و نکو څخه تشکر و کړ چه اوس یی بیا تکراروم اوددوی یوه وعده هم پښتنی ټولنی ته رسوم چه ماته یی وویل: «که تاسو ددغه کتاب دمطالعی دپاره په مساعد وخت کښی راشیء مونږ به په ډېره خوښی همکاری وکړو که په رسمی اودولتی توګه اقدام و کړیء نومونږ حاضریو چه دکتاب عکس هم واخلیء.»

---

(۱) دعلی اکبر په نامه د کوم شاعرنوم مونږ ته دمخه معلوم نه ؤ، یوازی د برتیش موزیم به کتابونو کښې د اکبر دیوان په نامه یو کتاب به (۴۲۳۰) لمبر قیدی. کیدای شی چه دواړه سوه څه ارتباط ولری. به هرصورت ددغی قلمی نسخی پیدا کول دښاغلی بختانی یوسته ادبی خدمت ګڼل کیږی. (رشتین)

ژور فکرونه

دپاکستان دامروز نومی اخبار څخه :

پیروښان بایزید انصاری

دحقایقو په رڼا کښی بیطرفه څیړنه

دپروفیسر ډاکټر ظهورالدین په قلم:

دحال نامې د(۳۷۰) مخ دلکنی سره سم د(تولی) (توری) د قبیلې یو څوتنه دبایزید مریدان ؤوچه د وی به تل په خفی ذکر بوخت اوسیدل اوداعقیده ئی درلوده چه قیامت ډېر نژدې دی او داد دنیا چاری خوشی اوعبث شیان دی اودا فانی دنیا یو سپک شی دی .

ددې خلکو په څنګ کښی یوه قافله تیرېدله چه د هندوستان څخه کابل ته تلله، دغو دخدای په ذکر بوختو مجذوبو خلکو دغی قافلې ته وویل چه تاسی په څنګه خوشی چاروګوتی پوری کړی دی چه له کابل څخه اسونه راولیء اوله دې ځای څخه مریدان بیایی .

شاید چه ددې خبری په اثر ددې مجذوبانو او دقافلې د خلکو

په منځو کښې سره جګړه پېښه شوې وې ، ددې جګړې په لړ کښې دغو مجذوبانو دقافلې دخلکو سامانونه اوشیان و شیندل او د هغو تجارتي مالونه ئې داسو نو دپښتونو لاندې کړل.

هر کله چه دقافلې خلك کابل ته راورسېدل نو میرزا حکیم ته ئې شکایت وکړ اوددې خلکو دشکایت په اثر میرزا حکیم پنځه سوه سپاره ددغو خلکو دوهلو او سرکوبې دپاره وټاکل چه ددغو پنځو سوو سپرو دمقابلې د پاره له دغو مجذوبانو څخه فقط پنځلس تنه سپاره میدان ته راووتل چه په نتیجه کښې دغه پنځلس تنه مغلوب شول .

دمیرزا حکیم سپاهیانو ددغو خلکو خپل خپلوان او اولادونه ونیول او کابل ته ئې بوتلل، ددې کار او پېښې په اثر بایزید میرزا حکیم ته یو خط ولیکه او ددې خط په ذریعه ئې هغه د ټولې قصې او کیفیت څخه خبر کړ لیکن هر کله چه د دربار هغو خلکو چه د بایزید سره ئې مخالفت درلود دمیرزا حکیم سر او حواس د بایزید په مخالفت ډك کړې ؤ ، نود بایزید دغه خط هیڅ تاثیر ونه کړ او میرزا حکیم د پېښور حاکم ته ولیکل چه باید بایزید ونیولای شي او مړ کړای شي معصوم خان د بایزید د نیولو د پاره اول ټولې لاری بندې کړې اودسپاهیانو دیوې دستې سره ئې په بایزید یرغل وکړ.

ددې یرغل په مقابل کښې د بایزید ملګرو مقابلې دپاره فیصله وکړه او دبدرد جنګ دلښکر دشمېر په اندازه ئې په دې مقابله کښې دګډون دپاره (۳۱۳) تنه انتخاب کړل اومغلو ته ئې ماتې ورکړه، دا مقابله په حقیقت کښې دمغلو او پښتنو په منځ کښې یو بل ته د جنګ درابلنې دپاره یوه مقدمه وه، له دې نه وروسته څوڅو واره د پښتنو

او دمغلو په منځو کښې شخړې پېښې شوې، هر کله چه میرز اسلیمان دبدخشان څخه راغی نو اپرېدو دده لارو نیوله.

هر کله چه دده دمرستی دپاره دپېښور نه لښکری راغلی نو اورك زو او دتیرانور و اپریدو دده سره په مقابله ګوتی پوری کړې، په دغه وخت کښې بایزید په اپرېدو کښې استو ګنه غوره کړې ده او په همدغه ځای کښې دی په سنه ۹۸۰ کال کښې مړشو، دده زوی شیخ عمر دخپلو نور و ملګرو سره د مړی تابوت د دښمنانو څخه په پټه (بهته پور) وټه پور ته یووړ او په همدغه ځای کښې ئې ښخ کړ.

اخون درویزه دخپل مخزن الاسلام نومی کتاب په (۱۵۷، ۱۵۸) مخ کښې لیکلی دی چه بایزید ماتی کړې وه او غرونو ته تښتېدلی ؤ چه په دغه ځای کښې له ډېرې لوږی او تندی څخه په اشنغر کښې مړشو، یوسف زو دده تابوت ته اورواچاوه او دسوځیدلو نه وروسته ئې دده هډوکی په سیند کښې وغورځول، دده مریدانو په کاڼی ګرم کښې دده قبر د دې دپاره جوړ کړیدی چه په دی کار خلك تېر باسی، داخو دبایزید ددښمن اخون درویزه بیان دی.

داخو دهغو غټو او څرګند و پېښو بیان دی چه موږ د حالنامې څخه راټولې کړی دی، اوس دده په خصوص کښې دده دشخصیت او کردار په شا او خوا کښې ځینی هغه کیفیتونه واوری ء چه هغه موږ دده دخپلو تصنیفو څخه راټول کړی دی.

داښکاره او څرګنده خبره ده چه بایزید لکه دنورو مسلمانانو غوندی دشریعت پابند او مسلمان شخص ؤ لیکن سره ددې ټولو خبرو دی ډېر ذهین او ځیرك انسان ؤ، ده غوښتل چه د عبادت او دینی مقرراتو دغرض اوغایې په روح ځان پوه کړی؛ داځکه چه دی په دې

حقیقت پوهیدلی ؤ چه مذهب چه د کومو شمانو تعلیم او تلقین کوی باید مسلمانان په هغو عمل هم وکړی او باید ددوی په عمل او قول کښی تضاد نه وی دهمدې مفکورې په اساس ده په خپله هم خلکو ته د علم او عمل دواړو نمونه وړاندی کړه که څه هم دده پلار دده سره د تنفر د پاره ډېر مواد او عوامل برابر کړی ؤ ؛ مګر سره دد ې ټو لو خبرو به بایزید د خپل پلار سره ډېر ښه سلوك کاوه . هـر کله چه به بایزید د سفر نه راته نو خپل پلار ته به ئی ډېر ښه ښه شیان د تحفې په ډول لیږل لیکن هر کله چه په دینی معاملو کښی ددوی په منځ کښی سره مخالفت پیدا شو نو د خپل پلار سره ئې خپل تعلقات و شلو ل، بایزید یو بې پروا مصلح ؤ همدا سبب ؤ چه ده به قهر جنو او سخت خو یو پښتنو ته دهغو عیبو نه مخ په مخ بیانول او متعصبو او جا بر و حا کمانو ته به ئې هغه خبری کولې چه ده ته به حق ښکارېدلې بایزید د ریا ضت او مجاهدې په ذریعه خپله باطنی تصفیه وکړه او په د ې ذریعه ئې د ذات حقیقت وپیژاند، بایزید د خپل مقنا طیسی شخصیت او اعلی کردار په ذریعه د ډېرو خلکو په زړونو کښی ځای ونیو او د ده زامن اولمسی ټول ډېر ښه خلك ؤ ددغو خلکو ډېر خلك د ناپو هی له تورو تیارو څخه په روښانه لارو رسم کړل او له همدې کبله ده د پیر روښان په لقب په خلکو کښی شهرت وموند.

د بایزید تعلیمو نه:

د بایزید عمومی عقیدې خو کټ مټ لکه د نورو اهل سنت والجماعت د عقید وغوندی وې، لیکن ده د اعقیده لرله چه باید د ټولو عبادتونو غرض او غایه یوازی د خدای پیژندنه او معرفت وی چه د اعقیده به ده د علم التوحید په نامه یاد وله، ده دا نظریه درلوده چه د دې علم التوحید د

حصول اولاس ته راوستلو د پاره دیو کامل پیر وجود ډېر ضرو ری کاردی اوددې ضرورت د ثبوت د تا ئید او تو فیق د پا ر ه ډ پر حدیثو نه وړاندی کړی دی.

بایزید په دې عقیده ؤ چه کامل پیر خپل مریدان له گناهو نو څخه توبه گار کوی اودرجه په درجه ئې دیوې پوړی نه بلی پو ړ ی ته پورته کوی اوپه دې ترتیب ئې دتصوف اومعرفت جگ مقام ته رسوی، د ده د و یش سر ه سم دغه مقامو نه اومنزلو نه په دې ډول دی.

شریعت ،طریقت، حقیقت ،معرفت ،قربت ،وصلت ،وحدت اوسکو نت.

شریعت عبارت دفقهی حکمو نو اومقرراتو دمنلو او پابندی څخه وی اوطریقت دنفسانی غوښتنو څخه ځان ژغورل اودفرشتو په عباد ت دځان مصروف کول اومشغولول دی، اودحقیقت څخه مطلب دماسوالله یعنی بی له خدای څخه دنو روشیانو له زړه څخه و یستل او یوا ز ې دخدای اودهغه دجمال په شا اوخواکښی فکر کول دی؛ اودمعر فت مطلب دادی چه انسان په خپل زړه کښی خدای حاضر اوناظم وگڼی اودایمانی بصیرت په ستر گود هغه ادراك وکړی او دقر بت مطلب دادی چه انسان په کائناتو کښی یوازی دخدای دالوهیت سرودونه واوری اوپه هغو پوه شی، اودوحدت څخه مطلب دادی چه انسان دشرك څخه ځان محفوظ وساتی او بې دخپل خدای څخه دبل چا نه مرسته و نه غواړی دتوحید مطلب فنافی الله عبادت دی، اود سکو نت مطلب دجگو اخلاقو په مرسته دخپل تعریف او توصیف څخه ځان ژغورل دی، که څه هم پورته ذکرشوی څلور قسمو نه یعنی شریعت، طریقت، حقیقت او معرفت په نورو عامو صوفیانو کښی هم عمومیت لری اود پا تو نورو قسمو نو یعنی قربت وصلت، وحدت اوسکو نت نو مو نه خو مو براور بدلی دی لیکن

په بنیادی ډول ددوی تصور په فنا او بقاء کښی شامل دی بایزید د خپل ځان په خصوص کښی وائی چه مادغه ټول مقامو نه پای ته رسولی دی اوزه په هره خوا کښی دحی اوقیوم جلوه وینم بایزید دخپل نفس دتکمیل نه وروسته نوروته بلنه ورکړه، دی وائی څوك چه ماته راځی هغه دی په ډیر اخلاص ماته راځی او هغه دی په ځان ډیر زیار اومجاهده ومنی اوهغه دی په قرآن اوحدیث اودمشایخو اوولیانو په خبرو دپوره عمل خاوندوی اوپه ډیر اخلاص دی زما خبری ومنی که څوك دغه خبری په ځای کړی نو هغه به دخدای په فضل ډیر ژر دخفی اوجلی شرك دپلیتی څخه ډیر ژر پاك شی اودنو موړو مقامو نو څخه به ډیر ژر پیر اودتوحید دعلم نه به په پوره ډول خبر شی (دصراط توحید ۲۴ مخ) بایزید خپل یو مرید ته یوه لایحه هم وړاندی کړی ده (دصراط مستقیم ۸۳ مخ).

باید هغه دهر ډول حرامو څخه ځان وژغوری او دحلالو څخه بی له دی چه اصراف وکړی ډیر لږ وخوری او وچښی، په ډیره خوږه ژبه ډیری لږ خبری وکړی، له بد اوخوشو خبر و څخه ډډه وکړی او ډیر خوب ونه کړی او شپه دخدای په یادو تېره کړی اوچه خوب ور باندی غلبه وکړی نو په داسی حال کښی چه دخدای ذکر ئی په ژبه جاری وی په اړخ دی څملی اودشپی په وروستی برخه کښی دی دخوب څخه جګ شی اوداودس دکولو نه وروسته دی دوه رکعته داوداسه دشکرانی لمونځ وکړی اودمرشدلوری ته دی مخ کړی اودهغه دشکل تصور دی په زړه کښی وکړی اوچه سهار شی نو په پوره حضور دې د سهار لمونځ ادا کړی او بیادی په داسی حال کښی چه دخدای ذکر ئی په خوله جاری وی دبل لمونځ دپاره منتظر واوسی تل دی دښو خلکو سره ناسته ولاړه کوی او دبدو

خلکو سره دناستی ولاړی څخه دی ډډه وکړی تل دی په خفی یعنی پټ ذکر بوخت اوسی اوترڅو چه ئی دتوحید معرفت لاس ته نه وی را وستلی ترهغی دی په آرام نه کښینی داو دبایزید د تعلیمو نو لنډ مطلب .

ددی پورته معلوماتو په څرك کښی موږ لږ ډیر دبایزید په افکارو او عقیدو پوهیدلی یو او دغه معلومات ز موږ سره دده دافکاراو عقیدو په معلومولو کښی مرسته کولای شی دپښه وروسته تاسی هغه خبری واوری چه خپلو او پردو دده په خصوص کښی کړی دی او دې خبری ته هم باید ځیر شی چه دده اعتراضونو د تردید په لړ کښی هم په ضمنی ډول دده عقائد په ښه ډول څرګندیږی .

الزامونه او دهغوجوابونه :

دبایزید ډیرلوی دښمن اخون درویزه دی اخون درویزه دخپل استاذ سید علی ترمذی په ملګرتیا دبایزید سره ډیری مناظرې او بحثونه هم کړی دی اخون درویزه یوداسی سخت متعصب انسان وچه له روایت څخه به دیو و یښته هومره هم نه ګرځیده ده ته هم به دقرآن اوحدیث دظاهری معنا ګانوڅخه ډیر جزوی انحراف اوډیر لږ تغیراو تاویل کفراوبدعت اوالحادښکاریده، لهدی کبله دی لومړی شخص دی چه بایزید ته ئی دپیر روښان په ځای پیرتاریك ووا یه او همدی اخون درویزه په خپلو تصنیفو نو مخزن الاسلام او تذکرة الابرارمع الاشرار کښی ده ته کافراوملعون اومرتد ویل دی همدی اخون درویزه خپلو مریدانو ته وویل چه په هرځای کښی چه دده لیکلی شیان مومی، هغه سوځوی (دمخزن ۱۰۸ مخ) په هرحال

باید دده رای په ډیر احتیاط و منلای شی داد ډیر زیات افسوس خبره ده چه اخون درویزه سره ددې چه دبایزید په تعلیمو نو ئی اعتراضونه کړی دی دده په کتابونو ئی کومه حواله نه ده ورکړی.

اوس موږ په لاندی کرښو کښی د اخون درویزه اعتراضونه دبایزید دتصنیفونو په رڼا کښی مطالعه کوو اولیکو او مجالست جوګیان اختیار کرده وعقیدهٔ تناسخ واوتارجوګیان در دل خود متمکن ساخته (تذکره ۱۳۸ مخ) دین تناسخ پیدا کرد کفرصریح (مخزن ۱۰۵ مخ)

داسراسر بهتان اوتوردی اودا ځکه چه کوم یو شخص چه هغه په قرآن اوحدیث استنادکوی اوداسلام پنځه ارکان لمونځ روژه حج، زکواة اوجهاد منی (مقصود ۱۳ مخ) صراط ته حق، میزان ته حق شفاعت ته حق وائی (مقصود ۱۰ مخ) داسی شخص تناسخ بیخی نه شی منلای.

اخون درویزه لیکی:

بایزید دخدایی دعوه کړې وه او دخپلی ګوتی په مهر کښی ئی داالفاظ کیندلی و.

سبحان الملك الباری جدا کرد عالم نوری از ناری بایزید انصاری (تذکره ۱۴۶ مخ)

یوازی یومخالف دپورته عبارت څخه دامطلب اخیستلای شی څه بایزید ځان ته سبحان الملك الباری لیکلی دی حال داچه په هغه وخت کښی دامعمول اودستورو چه خلکو به دخپلو ګوتو په غمی یا کوم یو آیت یاد کوم یوحکیم حکیمانه قول اویا کوم یو شعر کیندهٔ اوددغو شیانو سره به ئی خپل نومونه هم کیندل چه پورته الفاظ هم ددغه دستور داثر لاندی کیندل شوی دی.

۳ـ اخون درویزه لیکی :

اوامر شرعیه چون صیام، صلواة، حج، زکواة وغیره، ذالك را بد می برد، منهیات شرعیه چون حرام خوردن ، خون ناحق ریختن وراه زدن ، مسلمانان راتاختن ، زنا کردن ، وزنان بیگانان را بی نکاح شرعی حلال دانستن، وریش تراشیدن وسب انبیاء ومتقدمین دادن مرتکب ساز (تذکره ۱۴۶ مخ) .

زماپه عقیده که بایزید دپښتنو غوندی ننګیالو خلکو ته دغه ډول تلقین کړی وای نوهغو به دی ژوندی نه وای پرې ایښی، په بایزید داډیرلوی تومت اوغټ توردی، دبایزید مقصود المؤمنین نومی کتاب دده دتعلیمونو ژوندی اوښکاره ثبوت دی او ددغه کتاب یوه جمله دآخون درویزه دټولو الزامونو دپاره بس اوکافی ده دی په خپل دغه کتاب کښی وائی :

ترك الشریعت کان راس الضلالته، یعنی دشریعت پرېښوول دټولو ګمراهیو جړه او بنسټ دی .

۴ـ اوس دبایزید په خصوص کښی دنورو مصنفانو خبری واوری :

ددبستان المذاهب مصنف د خپل کتاب په ۳۰۸ مخ کښی لیکی چه (او بافرزندانش مدت ها راه می زد واموال ازمسلمانان ستد ، خمس اموال در بیت المال میداشت چون حاجت شود براهل استحقاق قسمت کردی) داډی او تالان او دلارو وهل خوپه اسلام کښی بیخی ناروادی مګر که جنګ ونښلی نو په دغه وخت کښی دخلکو په منځ کښی هرګونه اوژوبلی کیږی اویو بل ته دغنیمت او ولجی مالونه په لاس ورځی ـ زما نظریه داده چه هر کله دبایزید اوددده ددښمنانو په منځ کښی په ښکاره اوخرګند ډول جنګونه شروع شول نو په دغه وخت

کښې دغه ډول واقعي پېښې شوې.

۵- عبدالقادر بدایوني د خپل منتخب التواریخ نومي کتاب په ۲۵۶ مخ کښې هغه خبرې چه د بایزید په خصوص کښې ئې دیوبل څخه اوریدلې دي په دې ډول لیکلې دي. چه بایزید په شرك او کفر بدنام دي د تاریخ فرشته دلومړي جلد په ۲۶۶ مخ کښې یو ازې دومره لیکلې دي چه بایزید یو هندوستاني شخص ؤ چه ځان ته به ئې پیر روښان وایه دي د پښتنو منطقې ته ورغې او په دغه ځای کښې ئې ډیر پښتانه خپل مریدان کړل.

۶- په پردو مصنفانو کښې تر ټولو لومړي لیلون (Arialik) د خپل (Aesearchesvl XIp.36) نومي کتاب په ۳۶ مخ کښې د مخزن الاسلام او د بستان مذاهب بیانونه ترجمه کړي او بایزید ئې بدشخص ښوولی دي او ده ته ئې د اسماعیل عقائدو پیروویلي دي، اخون درویزه داهم لیکلي دي چه مرزا سلیمان اسماعیلي مبلغ دي وغولاوه او د خپل دین څخه ئې وګرځاوه مګر د بایزید په خصوص کښې د اخون درویزه د الزام ځکه غلط دي چه د اسماعیلي عقیدو اساسي نظریه تاویل دي دغه خلك د قرآن په آیاتونو کښې تاویلونه کوي او یوه پټه اولړي معنې ورڅخه اخلي لیکن بایزید چه په خپلو تصنیفونو کښې نه کومو ځایو کښې په قرآن استدلال کړي دي په هغو کښې هیڅ قسم تاویل او ابهام نشته بلکه د هغو صریحي او واضحي معناګانې ئې بیان کړي دي، د اسماعیلیانو بله بنیادي عقیده د امام اطاعت دي لیکن د صوفیانو بنیادي عقیده د پیر اطاعت دي او د پیر او امام په اطاعت کښې ډېر زیات اوښکاره فرق موجود دي.

۷- (Dyden په تتبع کښې Elphinslone
An Account of The Kingdom of Kabul V-I-P 274,276

کښې هم هغه شیان بیرته تکرار کړی او لیکلی دی کوم چه پورته ذکر شوی شخص بیان کړی او لیکلی دی دالفنسټن نه وروسته (Magh-HG-Reventyoflhe (Selectionsfromthepoetry) په (Afqhans,P.52) کښې لیکلی دی چه بایزید د جالندهر د سلیمان نومی شخص د مرید کیدلو نه وروسته د جوګیانو په تعلیم عقیده پیدا کړی وه او دار واحو په تناسخ ئې عقیده لرله . بایزید پدی خبره یقین درلود چه د اولیاؤ په ذات کښې د خدای کامل ظهور یو کید ونکی او ممکن کار دی . د سر اولف کار ؤ (The Pathans) مصنف اول دا لیکلی دی چه د بایزید مریدانو ته ددی خبری عامه اجازه وه چه هر څوك چه د دوی د عقیدی څخه مخالف وی هغوی دی مړه کړی او د هغو مالونه دی تالا کړی د پښه وروسته لی دا نظریه څرګنده کړی ده چه د بایزید تعلیم د خارجیت ژوندی کول ؤو .

له دی مصنفانو نه وروسته د هندوستان نو یو مؤرخ نیود د غو پورته مؤرخینو پیښی کړی دی او ترنن ورځی پوری په درسی تاریخونو کښې د بایزید په خصوص کښې د دغو ډول خبرو د درسونه او تعلیمونه ورکول کیږی اوس د اصل حقیقت او د دوی د تصنیفونو د انکشاف نه وروسته هیڅ یو مؤرخ د دی خبری حق نه لری چه هغه د غلطو او بی سنده روایتونو او معاندانه پروپاګندونو په بنا د بایزید شخصیت مسخ کړی او د غه مسخ شوی شکل خلکو ته وړاندی کړی .

سر بیره د ده په تصنیفونو له دده په معاصرینو کښې د اسی په انصاف مین مؤرخین هم شته چه هغوی د خپل ذخیرة الخوانین نومی کتاب د دیباچی په ۲۵ مخ کښې د بایزید په خصوص کښې خپل نظریات د اسی لیکلی او څرګند کړی دی .

بایزید دومره په زړه پوری شخصیت درلود چه هر څوك به ده ته ورنژدی شو هغه به په ده عقیده پیدا کړه او یا په بل عبارت هغه به دده معتقد شو بایزید دقرآن او حدیث د تعلیمونو تبلیغونه وکړل او دخپلو کرامتونو او ښو خویونو په اثر لږ پښتانه په ځان راغونډ او راټول کړل ده هغوته دامر بالمعروف او نهی عن المنکر حکم وکړ، کوم خلك چه دده په ځای ناست وو یعنی دده خلیفه ګان وو هغوی د دغه عصر داسلام مهم ارکان وو او د غو خلکو نو ورته د اسلام د سمی لاری ښوونه کوله .

عبدالرحمن بلوڅ

سخن مجلی ته یوه کتنه

دسخن میاشتنۍ مجلې چې په ایران کښې خپرېږي په خپله نهمه ګڼه کې د(بلوڅ او بلوڅي) ترعنوان لاندې دښاغلي علي اکبر جعفري په قلم یوه مقاله خپره کړې ده ، او په دې مقاله کې نوموړی لیکوال ډېر غور ځې پرځې وهلې دي .

ښاغلي جعفري ډېر تاریخي حقایق هم بیان کړي دي مګر کوم وخت چه سړی تاریخي حقایق بیانول غواړي نوورته ښایي چې یوازې تاریخ ته ګوته ونیسي اوخپل احساسات پکښې داخل نه کړي .

زه غواړم چه ددغه لیکوال تحقیقات او څېړنې مو ر خینو ته وړاندې کړم او په کره نظر ورته وګورم.

له آمونه ترعربه (۱) دی شریك د ننګ په کار
زورګیرا نو ماته وکړه که سکندر ؤ که تا تار
ددوی توان اوواك له لاسه شهنشاه نه ؤ قرار
سره ګډ د ننګ په کار دی د تاریخ په ټول ادوار
دوی په اصل پښتون بلوڅ دی نه مغل دی نه تاتار
دی زامن د یوه پلار د آرین له لوی تبار

۱ـ (بحیره عرب)

د نوموړی لیکوال په عقیده بلوڅی ژبه د ایران په هیواد کښی پیدا شوې ده او دده په اصطلاح دهغه ځای مال دی او له ایران څخه بیا نورو ځایو ته تللی ده او څه رنګه چی دده په مقاله کښی راغلی دی «بلوچ ساده او ساده دل» خپل اصلی هیواد هیر کړی دی. خو بناغلی دې ته نه دی ملتفت چی د بلوڅی ژبی په برخه کښی د ډیرو پوهانو محققی او مستندی نظریې موجودی دی چه دادی په ورو سته ډول ګرا نو لوستونکو ته وړاندی کیږی:.

بلوڅی ژبه او د پوهانو نظریی:

۱- استاد حبیبی د پښتو ادبیاتو په تاریخ کی لیکی چه بلوڅی ژبه د آریایی ژبو په ناپاړسو (Non-Parsic) کورنی یعنی زند پوری اړه لري چی پښتو هم اساساً له دغی کورنی څخه ده. (۱)

۲- پروفیسور سر، اې، جی ګریرسن وایی: «له هغو ژبو څخه چی موږ یی ناپاړسو بولو او د مید یك ژبی اطلاق هم پر کیدای شی د پامیر ژبی دی چی په هغو کښی پښتو، بلوڅی، غلچه، او رمړی شامل دی». (۲)

۳- نیجر جورج د بلوڅی ډکشنری په سریزه کښی وایی چه بلوڅی ژبه د هندی او ایرانی ژبو د اتصال کړی ده او د دغی ژبی د پرمختګ ځای بلوچستان دی دغه راز نوموړی وایی چی د عربی ژبی تاثیر په بلوڅی کښی خورا لږ دی او نسبت ونورو همسایه ژبو ته د عربی لغات په بلوڅی کښی کم دی. (۳)

---

۱ - د پښتو ادبیاتو تاریخ استاد حبیبی لومړی ټوك ص ۳۷

۲- د پښتو ادبیاتو تاریخ لومړی ټوك.

(۳) English - Balochi Colloquial Dictionary Major Gearge Waters Gilbertron Page. XXVI and VI

۴- د برتیانیکا دایرة المعارف لیکی چه بلوڅی ژبه ترپخوانی پاړسونه لاپخوانی ده او د اژبه د پاړسوله ډیالکټونو څخه نه ده پیداشوی بلکه د دې ژبی او اوستا ترمنځ نژدی اړیکی شته مګر په دې کی هم شك نه شته چی په دې ژبه کښی د فارسی، عربی او پراکرت اثر لږ وډیر لیدل کیږی (۱)

۵- د بلوڅی میاشتنۍ مجله د ۱۹۵۶ کال د جولایی د میاشتی په ګڼه کښی د بلوڅی ژبی د مختلفو لهجو د پرتلنی په ضمن کی وایی چه بلوڅی یوه آریایی ژبه ده او کوم تاثیر چی نورو اریایی ژبو یو پر بل کړی دی دغه ژبه هم له نورو آریایی ژبو څخه متأثره شوی ده (۲)

۶- دغه راز د اولس مجله لیکی: د ځینو خیال دی چی بلوڅی د پاړسو بدل شوی شکل دی، مګر حقیقت دادی چه بلوڅی یوه بیله ژبه ده، البته دا به سړی ومنی چې د ایرانی بلوچستان او د ایران سرحدونو ته نژدی او سیدونکو بلوڅانو په ژبه د پاړسو لږ ډیر اثر شته او په شرقی بلوڅانو د پاړسو په ځای د همسایه ژبو لکه سندی او سرائیکی ژبو اثر لیدل کیږی. او په شرقی او غربی بلوڅی کی څه خاص بنیادی فرق نه شته یوازې د مختلف ماحول په وجه ځینی جزئی توپیرونه لیدل کیږی او په بنیادی ډول ټوله یوه بلوڅی ده. (۳)

۷- میجر جورج د پښتو او بلوڅی ژبو په پرتلنه کی وایی چی د واړو ژبو له پراکرت نه ډیر لغتونه اخستی دی او د دواړو ترمنځ نژدی اړیکی شته دغه ډول د کردی ژبی اصلی منبع هم بلوڅی

۱- د برېتانیکا دایرة المعارف ۲ ټوك ص ۳۱۰۱ س ۱۷۶۳

۲- بلوڅی، ماهتاك ۱۹۵۶ جولای- کراچی

۳- اولس (په پښتو ژبه) خصوصی ګڼه ۱۹۶۳ کویټه بلوچستان

معلومیږی نه پاڅ سو . (۱)

۸ ـ داولس کالنی لیکی : ددی دپاره چی داخبره ثابته کړو چی بلوڅی یوه اریایی ژبه ده ترڅولومړی باید دهغی اودنورو آریایی ژبو ترمنځ یوه پرتلنه وکړو او بیادپوهانو نظریوته مراجعه وکړو . نوموړی کالنی زیاتوی چه که چیری مونږ دبلوڅی ژبی فونیټك (Phoneties) ته په غورو ګوروا او هغه د نورو آرایی ژبو سره مقایسه کړونو معلومیږی چی داهم یوه آریایی ژبه ده مثلاً :

بلوڅی یك ، پښتو یو ، هندی ایك ، سندی اکهرو، فارسی یك

یا : بلوڅی دو ، پښتو دوه ، هندی دو، سندی ډو ، فارسی دو

کردی مو

یا : بلوڅی ماس یامات پښتو مور ، هندی مان ، فارسی مادر، کردی مو

یا : بلوڅی براس یا برات پښتو ورور ، هندی بهایی، سندی با فارسی برادر مګر داچه آیا بلوڅی په ایرانی ډله کښې راځی یا په هندی کی یوه ګرانه خبره ده ولی چی ددواړو اثر په کی شته او ځینی پوهان وایی چه بلوڅی پهلوی ته نژدی کیږی .

ډیمز وایی چی بلوڅی یوه اریایی ژبه ده چه دایران دختیځو ژبو سره زیات نژدیوالی لری اودغه پورتنی ژبی ټولی سره خویندی اوله یوی مورنه زیږدلی دی که څه هم بلوڅی له سیاسی انقلابونو اوتاریخی واقعاتو څخه ډیره متاثر شوی ده خو بیاهم خپل اصلی شکل اوخیره یی خوندی کړی ده (۲)

---

۱ ـ بلوڅی ډکشنری مجر جورج لومړی ټوك XI ۷ - X۷

۲ ـ اولس سالتاك (په بلوڅی ژبه) کویټه بلوچستان ص ۸ ـ ۱۳ س۱۹۶۳

۹ - دآریانا دایرةالعارف لیکی : بلوخان چه دبلوچستان نوم هم له دغې کلمې نه جوړ شوی دی ددی هیواد دنفوسوزیاته برخه تشکیلوی اوددوی ژبه دآریایی ډلې په هندواروپایی ژبو پوری اړه لری (۱)

دغه راز نوموړی دایرةالمعاوف زیاتوی چه دآریایانو ګډه ژبه چه (۳۰۰۰ ق م) په شاوخوا کی پیدا شوې ده په لاندی ښاخونو ویشله کیږی : جرمانی ، سلتی ، رومانی (ایطالوی ، فرانسوی ، هسپانوی پرتګالی) سلاوی ، بالتیکی ، هندوباختری . مګر هندوباختری بیا دوې څانګې لری (هندی او باختری)

دهندی ډلی پخوانی شکلونه د(ویدسانسکرت اوپراکرت) ژبې دی اوننۍ ژبی چی له هغې نه جوړې شوی دی (بنګالی ، آسامی ، ګجراتی ، سندی ، پنجابی) او نورې ژبی دی اوپه باختری کورنۍ کې کردی فارسی ، پښتو اوبلوڅی شاملی دی چی ددوی پخوانی شکلونه فرس قدیم اوستا یازند او پهلوی ژبه ده (۲)

۱۰- دحدودالعالم په کتاب کښې لیکل شوی دی چه : بلوچها که زبان ایشان بدسته شمال غربی لهجه اریایی متعلق است بعدها به کرمان مهاجرت کردند وازمهاجرین بعدی این سرزمین شمرده می شوند .» (۳)

۱۱-دبرتیانیکادایرة المعارف د«بلوچستان» ترعنوان لاندی لیکی چه دبلوچستان مشهوری ژبی پښتو ، بلوڅی اوجتکی دی چه پښتو او بلوڅی په (Iranian) او جتکی د (I ndo -European) په (Indian)

۳ - آریانا دایرةالمعارف څلورم ټوک ص ۲۰۳ س ۱۳۴۱

۳ - آریانادایرةالمعارف څلورم ټوک ص ۴۴۸ س ۱۳۴۱

څانګه پوری اړه لری(۱)

۱۲-دغه ډول د کولمبیا دایرة المعارف زیاتوی چه بلوڅی یوه اندوار وپایی (Indo-Earopean) ژبه ده. (۲)

۱۳-دامریکانا دایرة المعارف وایی چه بلوڅی د بلوچستان ژبه ده اودا ژبه د (Iranion) (آریائی) ژبو له ګروپ څخه ده. په دې ژبه کی دوه ډیالکټونه لیدل کیږی (براهیویی او بلوڅی یا رخشانی) (۳)

۱۴-د(C.V.D)دایرة المعارف په خپل لومړی ټوک کې څرګندوی چه بلوڅی یو داندو اریایی (Indo-Iranion ژبه او داژبه په شرقی آریایی کورنۍ کښی شامله ده. (۴)

۱۵-د ۱۸۲۹ کال دامیریکانا دایرة لمعارف څرګندوی چه د بلوچستان عمومی ژبه بلوڅی ده چه ډیر خلک په دغه ژبه خبرې کوی داژبه دوی مهمی لهجی لری اود (Iranion) (اریایی) ژبو په ډله پوری اړه لری په دې ژبه کښی دفارسی ژبی اثر لیدل کیږی چه د دی علت هم دهمدغو خلکو هجرت دی (۵)

۱۶-دغه ډول په انګریزی ډکشنری کښی د بلوڅی کلمه داسی معنی شوې ده چه داژبه د جنوبی اریایی په (Iranic-Class پورې مربوطه ده (۶)

۱- Encyclopedia Britonica Pag .9.V 3

۲- The Columbia Encyc lo pedia Newyork 1754-1895

۳- The Encyclopedia Àmericana P. 123

۴- The Co lum bia Diking Desk Encyclopedia pp.qq À-K

۵- E-À-1829 3 -۷۰

۶- Funkand wag nalls new Standard Dictionary of The English language,N-Y.1961

۱۷- میجر جورج مورګنسټر هم بلوڅی یوه آریایی ژبه بولی چه په شرقی کورنۍ کښی شامله ده(۱) دپور تنیو تحقیقا توله مخی مونږ ویلای شو چه بلوڅی یوه آریایی ژبه ده او دار یایی ژبو په شرقی کورنۍ کی شامله ده او ددې ژبی اصلی ریښه هم دپښتو ژبی اصلی منبع ته رسیږی او دواړی ژبی سره خونیدی او دیوې مور لوڼی دی.

د بلوڅی کلمی معنی او ریښه:

نوموړی لیکوال تر دغه عنوان لاندی لومړی د برهان قاطع او نور وقاموسو نو په حواله لیکی چه دچرګ تاج ته وایی او یو ضعیف استدلال هم ورته راوړی او هغه دا چی دوی خپله لنګوټه دچرګ د تاج په ډول پیچی او دغه صفت په پښتنو او پنجا پیانو کی هم شته. دلته نوموړی لیکوال له تصور څخه کار اخستی دی او حقیقت بل ډول دی.

داولس مجله لیکی: بلوچ یا بلوڅ د بلوچستان دخلکو نوم دی دا کلمه په پښتو کی بلوڅ دی د پښتو د تلفظ په لحاظ او داچی په عربی کی د(چ) آواز نه شته په عربی کی بلوص په اوستا کی بلوش په عبرانی کی بلوش په اشوری کی بروشو په آرامی پهلوی کی بروهو او په بلوڅ ږبه کی بلوچ ویل کږی. د دی کلمی د تلفظ اختلاف دمختلفو ژبو او لهجو د اختلاف په سبب پیدا شوی دی. په عربی کی د(چ) آواز نه شته د دی په مقابل په عبرانی کی د(س، ص، ث) آوازونه نه شته مثلاً د عربی (عاصی) په عبرانی (آهی) ویله کیږي او د عربی (حیث، ثمود، بعث) په عبرانی کی (حیت، تمود، او بعت)

۱- د میجر جورج مورګنسټر ریوټ ۱۹۲۴

تلفظ کیږي او همدغه د بلوڅ لفظ په بابلی لهجه کی بلو شو ویله کیږی (۱)
مخکی له دې نه چه د بلو څی کلمی معنی معلومه کړو غواړم چه د براهوایی د کلمی په باره کښی هم یو څو خبری وکړم او لومړی دا ثابته کړم چه دا کلمه هم په اصل کی بلوڅ وه .

د پورتنی وضاحتو نو له مخی هر کله چه د ـل اوس ، ش ، چ ، ص ټول یو لفظ او هم مخرج آوازونه دی نو ځکه یو په بل بدلیږی (۲)

اوس نو که مونږ د بلوڅی کلمه د آرامی پهلوی ژبی د لهجی او تلفظ مطابق ولیکو چه په هغی کی ل = ر اوچ ، س = ه تلفظ کیږي نو په دې شیان به همدغه لفظ د بلوڅی برو هی شو ې وی نو په دی ترتیب مونږ دی نتیجی ته رسیږو چه بلوڅ او براهویی دواړه یو قام دې او په نومونو کښی فرق راغلی دی او د لهجی اختلاف هم له دې باعثه دی چه په براهویی ژبه باندی

د پردوژبو اثر پریوتی دی او په دې اعتبار مونږ دا نتیجه هم اخستی شو چی د دی دواړو ژبو ، بلوڅی او براهویی) ویونکی خلك د تاریخ په پخوانی زمانه کښی په دوو بیلو بیلو تهذیبی او مدنی سیمو کی څه زمانه ځانله جدا او سیدل شاید د همدې اعتبار اتوله مخی ځینی کسان چی ژور فکر نه لری د دوی دوه جلا قومونه بولی میر ګل خان نصیر د بلوچستان په تاریخ کی لیکی :

د بلوڅو هغه قبیله چی په برزکوه کی د پښتنو (اوغان) سره یو ځای اوسیدله او وروسته تر هغو پښتو چی د دوی او دا نوشیروان ترمنځ وشو ې دوی بیرته خپل اصلی وطن بلوچستان ته راغلل او په کلات کښی ئې یو محلی

۱ ـ اولس کویته بلوچستان (په پښتو ژبه) ص ۲۰ـ۲۲ س ۱۹۶۳

۲ـ اولس کویته بلوچستان (به پښتو ژبه) ص ۲۰ ـ ۲۲ س ۱۹۶۳

حکومت جوړ کړ په دغه وخت کی دراویدیانو دوې ته برز کوهی و یل چه وروسته بیا بروهویی او اوس براوهویی یعنی (وپه ا) بدل شوی دی او په سندی ژبه کی اوس هم دا کلمه بروهی ویل کیږی (۱) د اسلام دایرة المعارف لیکی چی بلوڅان په دووګر وپونو باندی ویشل کیږ.

(براهو او بلوچ)

لنډه دا چی دوی دواړه یو قام او دیوه پلار زامن دی او کوم جزئی فرق او توپیر چی د دوی په ژبو کی لیدل کیږی د دی خبری برهان نه شی کیدای چی دوی مختلف نژادونه دی. اوس نو بیرته خپل اصلی مقصد ته ځو:

ښاغلی جعفری دانګریزی منصبدارانو په وینا باندې اتکاء کوی او وایی چی بلوچ د هند راجپوتانو یوه ښاخه ده.

راجپوتان په هند کی یو ډیر لوی بهادر قام دی چی د دوی فداکاری په هره دوره کښې د هند د تاریخ افتخار ګڼل کیږي نو که دا حکم د بهادری او میړانې په لحاظ وی البته بلوڅان د هغوی سره په دې صفت کی شریك دی مګر د قومیت په لحاظ کوم ارتباط ورسره نه لری

دی وایی چی بلوڅ کلمه اصلا ملیچه ده دا نو څنګه کیدای شی چی (م) فوراً په (ب) ابدل شی! یا دا چی بدروچ ورته وایی نو ګمان نه کوم چی (وپه ل او د په و بدل شی).

بل ځای دی وایی چی بیلوس د دوی د خدای نوم ؤ او دغه نوم یې په ځان باندې ایښی دی او دا کلمه اصلا یونانی ده

بیلوس د بلوڅانو خدای نه و بلکه د دوی ستر نیکه واو دا کلمه څه رنګه چی نوموړی لیکوال ګومان کوی یونانی نه ه بلکه آریایی کلمه

۱ـ د اسلام دایرة المعارف لومړی ټوک س ۱۹۶۰ ص ۱۰۰۵

ده. ممکن چه په ژیو نانی ژبه کښی هم دغسی یوه کلمه موجوده وی لیکن په هره ژبه کښی چی یوه داسی کلمه موجوده وی هغه دبلوڅانو خدای یاستر نیکه نه دی په آخر کښی ښاغلی جعفری اصل حقیقت ته نژدی کیږی او وایی چی دبلوڅ کلمه له دو اجز او څخه مرکبه ده (بل او اوچ) او بل دفارسی (پهل) دی. مګر زه وایم او خبره په همدی ځای ختموم چی (بل) په براهویی او سانسکرت کی دلوی معنی ورکوی او دبل کلمه تر اوسه پوری په براهوی ژبه کښی استعمالیږی او دا لاندی شکلونه لری (بل بلا، بلون، بلو) مثل قوم نابلا، (دقام مشر) بلا بندغ) (لوی سړی) بلو کړاس (لوی څیز) او په بلوڅی کښی بلی او بلوك انا ته وایی چه په دوی کښی هم دلویوالی معنی پرته ده او داوچ اصلی معنی بهادر دی نو دا وچ دکلمی معنی لوی بهادر او غیرتی ده. که چیری ددغه نوم صفت دده په موسوم کی موجود نه وی نو ښاغلی لیکوال داعتراض حق لری. لنډه داچی دبلوڅ اصلی معنی لوی بهادر دی او دا معنی هر چا ته ښکاره ده نو که نو موړی لیکوال او دده دمکتب پیروان نوری معنا ګانی ورته جوړوی هغه به ددوی خپل ځانی نظریه وی. بل داچی په ځینو کتابونو کی دبلوچ سره دقفص یا کوفچ کلمه مترادفه راځی او دزیاتو کسانو دا خیال دی چه دوی یو قام دی حال داچی دوی سره بیل دی لکه چه حدود العالم لیکی: «قفص ها از بلوچها می ترسیدند ... و به این حساب باید بلوچها از ضعف همسایه های خود استفاده کرده باشند» دغه راز نو موړی کتاب زیاتوی چی دکوفچ معنی په پاړسو کی (کوه پیما) ده او په عربی رسم الخط کښی کوفچ په قفص لیکل شوی دی او دقفص قام دبلوڅانو له لاسه له خورا سختی ماتی سره مخامخ شوی دی (۱)

(۱) حدود العالم حواشی او تعلیقات مینورسکی کابل ۱۳۴۲

دغه راز هلته چی ښاغلی لیکوال د(تاج خررس) معنی د بلوڅ وکلمی ته منسوبوی په غیر مستقیم ډول دغه معنی د پښتون کلمی د پاره هم جوړوی.
داخبره حقیقتاً دخنداوړ ده. دې کی شك نه شته چی د پښتون او بلوڅ قامونه په بهادری او مړانه کی د دنیا د نورو قامونو په نزد د لوی افتخار او جیغی خاوندان دی او خپله میړنه یی ټولو دنیا والو ته د تاریخ په هره دوره کی په ګډه او په عملی توګه ورښودلی ده څنګه چی د دوی د دودونو عنعناتو او حتی ژبو ترمنځ کوم خاص او بنیادی فرق نه شته او دواړی ژبی سره خویندی دی نو ځکه مورخین هم د دې دواړو قامونو په هکله یو راز فیصلی کوی.
مګر که چېرې نوموړی لیکوال او د ده د مکتب پیروان د پښتون قام په باره کی معلومات نه لری او د پکت، پکهت او پښت نومونه ور ته نا اشنا ښکاری نو لطفاً دی داریائیانو هجرت ته وګوری ترڅو چه د شك او تردید له دایرې نه ووځی.
اوس نو دلته زه د بلوڅانو او پښتنو د تاریخی ګډ وکار ناموڅخه یوڅه بیانول غواړم:
ښاغلی بینوا د هوټکو په تاریخ کی لیکی هغه وخت چه د ګرګین د ظلم او جفا تورې وریځی د افغانستان د ځمکی په یوه برخه کی خپری شوې او څو ورځو د پاره یې د ظلم او ستم بارانونه واورول او په دې پوه نه ؤ چه د دې خاورې د قومونو د غیرت په مقابل کښې د مقاومت توان او واک نه لری همدغه دواړه قامونه (پښتون او بلوڅ) وه چه د جنګیالی حاجی میر ویس خان هوټک په مشری یې د ګرګین د ظلم او تېری ماڼۍ داسی ړنګه کړه چه د ګرګین او د هغه د پېروانو په خیال کی نه ګرځېده او دغه نکل تر اوسه پوری په تاریخ کښې د ګرګین تر عنوان

لاندی موجود دی (۱) قاضی عطاالله خان د پښتنو په تاریخ کی داسی لیکی :

په کلات باندی دانگریز انو دحملی په وخت کی ناصر خان دمحراب خان زوی و تښتېد او دخپل پلار دحکومت دواپس اخستلو دپاره دیوی مناسبی موقع په تلاش کی شو. دیوې خوا د بلوڅو قام دشاه نواز خان په خانۍ باندی بلکل رضا نه ؤ. هغه دفرنگیانو په لاس کی یو بې طاقته او بی اختیاره سړی ؤ او په هم دی سبب هغه د بلوڅو قوم قدر او غرت نه شو حاصلولی چنانچه هر کله چه به هغوې ته موقع په لاس ورتله نو په فرنگیانو او دهغوې په سړو باندی به یی حملی کولی تر دې حده پوری چه یو ځل بلوڅو لفټننټ والپول کلارک یو انگریزی افسر دهغه داو ښانو له یوې قافلی سره بالکل تباه اولو ټ کړو پس له دې هغوی او کاکړ و کویټه محاصره کړه او ناصر خان دخپل پلار ر ۱۰ ل خستلو دپاره مبدان ته راووت.

ټول قبائل (پښتون او بلوڅ) دهغه ترجنډې لاندی راټول شول ځکه چه دهغی علاقې دټولو پښتنو دا یقین ؤ چه محراب خان بی گناه فرنگیانو وژلی دی او دهغه پر ځای یی خپل یو غلام زموږ پر سر باندی درولی دی چه د دوی داستثماری گټو دپاره هر ډول ظلونه پر مونږ کوی ناصر خان په لږه موده کی دخپل قام مشری په لاس واخسته او لوی طاقت یې پیدا کړ.

او پر کلات باندی یی حمله وکړه که څه هم لفټننټ ډیر زر له خپل

۱ـ دهوټکو تاریخ. مولف عبدالرؤف بینوا دعقرب ۱۴ـ۱۳۳۵

حکومت نه کومکونه وغوښتل مګر د بلوچو قبیلی پر سند حمله کړې وه ..... (۱)

داولس مجله دډاکټر میر راقب (تواریخ بلوچ) په حواله لیکی چه داتلسمی پېړۍ په منځنۍ دوره کی چه د مسلمانانو قدرت په هندوستان کی مخ پر ضعف روان و مرهټو دډهلی د تخت د نیولو هڅه کوله . داخبر احمدشاه ابدالی ته ورسید چه مرهټه غواړی د هندوستان پایتخت له مسلمانانو نه ونیسی . ددې ګران کار دپاره احمد شاه ابدالی میر نصیر خان ته رجوع وکړه او د بلوڅو یو ننګیالی لښکر احمد شاه سره روان شو او د پانی پت په میدان کی یی د مرهټو ټولی قواوې له منځه یووړی . په ۱۷۷۸ کی د علی مردان خان د مقابلی دپاره د احمدشاه سره د بلوڅو ۲۴ زره جنګیالی مېړ و نه ماګری شول په نښته کی فتحه د احمد شاه په نصیب شوه تر فتحی و روسته احمد شاه بابا د نصیر خان د مور پوښتنی ته ورغی ځکه چی دا مېر منه په خپله دابدای کومک ته ورغلی وه او احمدشاه یی خپل زوی باله . احمد شاه د کویټی علاقه د پړونی په ډول بی بی مریمی ته ورکړه چی تر ننه پوری شالکوټ نومېږی (۲)

ښاغلی ملک الله بخش خان بلوچ بی ، ای په خپل کتاب کی لیکی :

هغه وخت چی د مسلمانانو پاچاهانو پر هندوستان باندی حملې کولی د بلوڅانو کار نامې هرچا ته معلومې دی او کوم وخت چی همایون د دهلی تخت د بیا لاس ته راوستلو دپاره هغی خوا ته متوجه شونو په لومړی ځل د بلوڅو د تورې شرنګ د دهلی د کلا په

۱- د پښتنو تاریخ دوهم ټوک. قاضی عطاالله خان جولای ۱۹۵۹ ص ۱۰۸-۱۰۹

۲- اولس کوټه بلچان

دروازه کی واوریده شو دغه راز دمحمود غزنوی دلښکر څلورمه برخه اوداحمدشاه ابدالی دلښکریوه برخه بلوچ اونوری پښتانه وو. نو موړی لیکوال زیاتوی چی دمرهټو په جنګ کی لس زره بلوڅان ددین دخدمت په لاری کی شهیدان شول مګر مرهټو ته یی یو نه هیریدونکی شکست ورکړ. دافغانستان حکومت ددغی وروری دمناسباتو په وجه خان اعظم میر نصیرخان ته دوفادار ورور لقب ورکړ (۱)

سربیره پردی چی دادواړه قامونه دمشترک ثقافت خاوندان دی یو بل مهم خصوصیت چی په دې دواړه وقامونو کی مشترک لیدل کیږی هغه قبائلی رویش دی چی هره قبله دخپل ستر نیکه په نامه یادیږی لکه: احمدزی، اڅکزی، اسماعیل زی، خروټی، منګل، بارګزی محمدزی، ګورګ اوداسی نوری.

حتی ځینی قبائل په پښتو کی شته چی هغه عینا په هماغه نامه په بلوڅانو کی لیدل کیږی لکه خروټ، احمدزی، اسماعیل زی، منګل، ګورګچ او نور چه دغه خصوصیت په داسی حال کی چه په نور وقامونو کی لږ لیدل کیږی ددی دواړو قامونو اړیکی لاټینګوی.

په آخر کښی له هغو خصوصیتونو څخه چی ددی دواړو قامونو دژبو ترمنځ مشترک دی یو څو مثاله بیانول غواړم:

۱- لکه څه رنګه چی په پښتو کی د(ټ، ډ، ړ) آوازونه موجودی او په پاړسو کی دا آوازونه نه شته همدا ډول دا آوازونه په بلوڅی ژبه کی هم استعمالیږی لکه: ډول، ټپ، وړی او نوری.

۲- په دواړو ژبو کی صفت ترموصوف دمخه راځی.

۱- د بلوچ قوم کی تاریخ کی چند بربښان دفتری اوراق. ملک الله بخش بلوچ بی، ای ص-۲-۵-

۳- په دواړو ژبو کی لومړی مضاف الیه او وروسته مضاف راځی

۴-(ین) د نیستی لاحقی په ډول په دواړو ژبو کی استعمالیږی

۵- (یې) په دواړو ژبو کی نا خپلواك اضافی ضمیر دی ځکه یې، ډګار یی، ورور یی براس یی.

۶- په دواړو ژبو کی داسې کلمې ډیرې دی چه په ساکن حرف شروع کیږی.

«د بلوڅی او پښتو او د بلوڅی او براهویی او پښتو دارتباط په باره کی لطفا د کابل مجلی ۱۳۴۲ کال د زمری او تلی ګڼو ته مراجعه وکړی.»

ښاغلی جعفری د خپلی مقالی په سر کی وایی چه دایران په خاوری د پاکستان په باختری د افغانستان په جنوب باختری او د شوروی اتحاد د ترکمنستان په ځینو برخو کښی یو ډول خلک هستوګنه لری چه دوی ځانته بلوڅ او خپلی ژبی ته بلوڅی وایی او یوه ډله یی خپل اوسنی هیواد بلوچستان بولی؛ مګر بیا هم داسی کسان دی چه په مختلفو لهجو (خراسانی، پاړسو، کرمانی پاړسو، کردی، سندی، ملتانی پنجابی، پښتو او عربی) خبرې کوی او له پاکستان نه نیولی تر عربستان پوری خپاره دی او سره له دې چه د پردو د امیزش په اثر دغو ټولو ته مونږ بلوڅ نه شو ویلای بیا هم دوی ځانو ته د بلوڅ خطب کوی».

۱- اوس نو ښاغلی لیکوال ته ښایی چه په دې پوه شی چه دوی حقیقتاً بلوڅان دی او دا نه چه یوازی دوی ځانته بلوڅ وایی بلکه ټول نړۍ وال دوی په دغه نامه پیژنی او د دوی تاریخی کارنامی نه یوازی د ښاغلی لیکوال په تاریخ کښې بلکه د اکثر و هیواد نو په تاریخونو کی د افتخار په قلم لیکلې شوې دی

۲- دارښتیا ده چه د دوی هیواد بلوچستان (محکوم جنوبی پښتونستان)

اودوی دهمدغه وطن اوخاوری زامن دی چه ددی خاروې په سر ددوی دځوانانو وینې تویی شوې او توئیږی اوداورنګ او فرنګ په مقابل کی دریدلی دی، او که چیری تاسو ته دبلوچستان اصلی سرحد معلوم نه وی نوزه دیو بلوڅ په صفت دتاریخی کتابونو په استناد درته وایم چه (له کرمان څخه نیولی ترسند پوری ددوی سیمه او پخوانی خاوره ده)(۱)

۳- ښاغلی جعفری به په دی پوهیږی چه ژبه هیڅکله په نژاد باندی تاثیر نه کوی اود اچه دمحیطی تاثیر ونو له امله په مختلفو محیطونو کښی دبلوڅانو یوه محدوده برخه په بیلو بیلو ژبو خبری کوی ستاسو ددې تاریخې څیړنی دلیل نه شی کیدای چه ګویا دوی مختلف نژادونه دی بلوڅ په هرځای کښی چه وی او په هره ژبه چه ږغیږی بیا هم بلوڅ دی نه عرب کیدای شی نه ترک او نه بل څه.

ښاغلی جعفری دخپلې مقالې په بله کرښه کی وایی چه بلوڅان ځان دحضرت حمزه یعنی دحضرت پیغمبر دکاکا اولاده ګڼی اوددی خبری د اثبات دپاره یو نیم بلوڅی بیت هم راوړی.

مګر لکه څه رنګه چه وروسته ښاغلی لیکوال په خپله هم اعتراف کوی کوم حمزه چه په بلوڅی اشعارو او یا نکلونو کی راغلی دی له هغه نه مراد حضرت حمزه نه دی حمزه دبلوڅو دیو تک ستر نیکه ؤ پښتانه او بلوڅان تل په خپلو میړنو نیکونو ویاړی او دهغوی نومونه په خپلو اشعارو کی راوړی.

بل داچه نوموړی ادیب براهویی خلکو ته بومی اود دوی ژبه داسترلیاد بومیانو دژبی سره یو شان ګڼی او یا داچه وایی چه پښتانه ځانته بنی اسرائیل وایې نودا دنوموړی لیکوال په معلوماتو پوری

۱- داسلام دایرة المعارف نوی چاپ لومړی ټوک کال ۱۹۶۰ مخ ۱۰۰۵

اړه لری مګر نه براهویان داسترلیا بومیان اونه پښتانه داسرائیل اولاده ده بلکه براهویان سوچه بلوڅان او پښتانه دپکت او پښت اولاده ده.

بالاخره وروسته له ډیری مجاهدی نه ښاغلی جعفری دخپل زړه راز ښکاره کوی او وایی چی بلوڅان اصلاً ایرانی دی. مګر که چیری دده مراد دایرانی نه اریایی وی زه هم دده دخبرو تائید کوم او که چیری بله معنی ځنی مراد وی هغه دده په وطنی احساس پوری اړه لری

دی دډاکتر لاتام دلپکنو په استنا دوایی چی کرد او بلوڅ یو قام دی حقیقت دی چی کرد دبلوڅو یوه ښاخه ده اودتاریخ په ډیرو زمانو کی اوغان، کرد، بلوڅ سره یوځای اوسیدل او دننګ په کار کښی سره متفق وه لکه چی فردوسی هم په شاهنامه کی ددوی ځای برزکوه بولی اوپه هغه کی دبلوڅانو مناسبات دایران دهغه وخت له شهنشاه سره ښیی.

چنین گفت دهقان دانش پژوه مراین داستان راز پیش گروه
که نزدیك زابل دوسه روزه راه یکی کوه بود سر کشیده به ماه
به یك سوی اودشت خرگاه بود دگردشت زی هندوان راه بود
نشسته دران دشت بسیار کوچ زاوغان ولاچین وکرد بلوچ (۱)
بل ځای وایی
همی رفت وآگاهی آمد به شاه که گشت از بلوچی جهانی تباه
بکار بلوچ ار چند ارد شیر بکوشید با کار دانان پیر
نبود سودمندی به افسون ورنگ نه از بند ورنج ونه پیکار وجنگ

۱ـ شاهنامه ـ فردوس

ز گفتار دهقان بر اشفت شاه بسوی بلوچ اندر آمد براه

او په آخر کی داسی وایی:

از ایشان فراوان و اندك نماند

زن و مرد جنگی و کودك نماند

سرا سر به شمشیر بگذاشتند

ستم کردن کوچ بر داشتند

بشد ایمن از رنج ایشان جهان

بلوچی نماند آشکارو نهان (۱)

اوسی نوشاغلی لیکوال دی په خپله قضاوت وکړی چه که چیری بلوچ واقعاً ددوی په اصطلاح (مالی ایران) وی نو ددوی دارتباط او ورور ولی تاریخ ولی له دومره خونړیو اوبدو خاطرونه ډك دی

(۱) شاهنامهٔ فردوسی (ج) ٤ (ص) ۲۸٤

واسعی

دپښتو ادب خوږی خواوی

خوندوراړخونه

-۸-

ښاغلی الفت دمملکت په او سینو (معاصرو) ادباوو کښی داګړی لمړی ادیب او شاعر دی دده افکار او تخیلات دواړه خواږه او خوندور او اشعار یی پرهر مذاق برابر دی که زموږ دمقالی عنوان اجازه راکولای مونږ به دده کلام ته دهری خواکتلی او پرږغیدلی به وای خوڅنګه چه مونږ دپښتو شعر او ادب خوږی او خوندوری خواوی څیړونو دده دشعر او شاعری پر نورو خواوو څه نه وایو او یوازی یی دپښتو او پښتنی ښکلا خواوی ښیو او وایو:

ځکه چه دښاغلی الفت کلام له اوله تر اخره دخوند او ښکلا څخه روغ او اشعارو هر بیت او مصرع ئی دلفظی او معنوی محاسنو یاد پښتنی اصطلاحاتو او د پښتو داد بی ښیګڼو څخه ډک دی نو موږ دده دغوره اشعارو مجموعه راته ایښی او د لمړی بیت څخه شروع ورته کوو او ادبی ښکلا وی یی راباسو:

دی دغوره اشعارو په لمړی بیت کښی وایی:

نو ریی وصل کښی نه مو می څه چه دی مو می هجران کښی
خوند له خپله ذوقه اخلی ✲ که هیڅ نه وی دستر خوان کښی

پورته بیت دده دغوره اشعارو دهغی ټوټی لمړی بیت دی چه د (شاعر) تر عنوان لاندی یی ویلی دی په دی بیت کښی دشاعر اودنورو تو پیر په خورا خوږ و کلماتو اوزړه وړونکو عباراتو راوړی وایی :

کم خوند اوخوږ والی چه نورئی له وصله اخلی شاعرئی په هجران اوبیلتون کښی مومی یعنی شاعر پرخالی دسترخوان او تش ټغر مړیږی ده دلته هغه مقصد ادا کړی دی چه ښاغلی حمزه شینو اری پخپل دی بیت کښی اشاره ورته کړې ده هغه وایی :

انتخاب وایه دچا ښه ؤزړګیه نورووصل مادوصل ارمان یو وړ

ښاغلی الفت اوښاغلی حمزه دواړه یو مطلب راوړی خو په دوو پیرایو کښی که څه هم ددې دووپیاوړو دواړو پیرایی اودافادی لاری دخوند۔اوښکلا څخه ډکی دی مګر د ښاغلی الفت داوینا چه شاعر پرخالی د ستر خوان دخپله ذوقه څخه خوند اخلی نو ې خبره او بکر فکر دی.

دلته به داهم ووایو چه د ښاغلی الفت او حمزه د واړو پر دې اتفاق دی چه شاعر ته تر وصل هجر خوږ دی او د ونه چه د هجر او بیلتون څخه خوند اخلی د وصل څخه یی نه شی اخستلای او که داسی نه وای نو به حمزه ولی د وصل پرځای دوصل ارمان چه هغه عین بیلتون دی منتخبولا ی او بیا به یی د حسن انتخاب پو ښتنه هم کولای چه « انتخاب وایه دچا ښه وزړګیه؟»

لنډه دا چه ښاغلی الفت یوه داسی مدعا راوړی او خپل کلام یی ځنی جوړ کړی دی چه په هغی مد عا کښی دی شاهد او قوی سند لری چه هغه پخپله د شاعر اقرار دی.

په دی ځا ی کی ماته دمیرزا بیدل یو بیت چه هغه هم معناً دغه

مقصد افاده کوی را په زړه سو هغه وایی:

ندارد نشهٔ چندان بدست آوردن مطلب
عجب کیفیتی دارد به مطلب نا رسیدنها

ښاغلی الفت لږ څه وروسته دشاعر پېژندګلوی ته دوام ورکوی او داسې وایی:

د بل کور کی خره غوائی وی دده بیت کښی معانی وی
حقیقت دی که مجاز دی د واړه شته دده بیان کښی

د دې بیت خوند او خوږ اړخ دا دی چه کور په عربی بیت بولی او پښتانه هم په عین پښتنواله کی د کور کهول څخه په (اهل بیت) تعبیر کوی مګر ده په حقیقی کور کښی خره او غوایی موجود بللی او د شاعر بیت چه د ده د پاره کور بلل کیږی حقایق او معنی ورله ثابتوی دی باریك او نازك ابتکار ته یوازی دده فهم سوی دی او په ډیر یوه ارزشناکه او خوند وره توګه ئې دا مقصد افاده کړی دی.

رښتیا داده چه دشاعر ژوند عبارت له شعره څخه دی شعر د شاعر مال، مملوك، جایداد، ثروت، پوله پټی او کور و قلا بلکه هر څه یی همدغه شعر دی نو که په دغه کور کی چه ښاغلی الفت په بیت تعبیر ځنی کوی حقایق او معانی نه وی ځای سوی ګواکی د شاعر کور وران او ژوندیی بیخونده دی (بیت) ته یی څوك دقدر په سترګه ګوری او د قلا برجو نه یی ړنګ دی.

داهم یو حقیقت دی چه دشاعر دموجودیت او شته والی ځای د ده اشعار او بیتو نه دی

او که څوك غواړی چه یو شاعر ووینی یا یې و پیژنی نو یی باید دده په اشعار واود کسلام په نمونه کی ولټوی په بل عبارت دشاعریت او ادب له نقطهٔ

نظره څخه غیر دده له بیته څخه بل چیری څوك نسی موندلای لکه دمغولیه کورنۍ فاضله شهزادۍ زیب النساء چه وایی :

درسخن پنهان شدم مانند بو در برگ گل
هر که دارد میل دیدن در سخن بیند مرا

ښاغلی الفت وروسته دابیت راوړی اووایی :

دی دحال په ژبه پوه دی قیل وقال ته حاجت نشته
اوری ډیر غلی شور و نه چه ویده دی نیستان کښی .

په پورته بیت کی دشاعر ستاینه سوی او دحال په ژبه یی بی له قیل ؤ قاله پوه بولی او غوږونه یی دونه حساس په نظر ورځی چه په نیستان کښی پټه خوله غوغا او په چپه چپائی کی شور ماشور اروی

دښاغلی الفت دادعوه بی استناده نه ده او دشعر ؤ شاعرۍ په نړۍ کښی شواهد لری چه یو له هغو څخه دمولانا جلال الدین بلخی دکتاب مثنوی دا بیت دی چه وایی :

بشنو از نی چون حکایت میکند
وز جدائی ها شکایت میکند

هو! نیستان دویښو زړونو او ژوندی روحو کسانو دپاره یوه خاموشه هنگامه او یوه پټه خوله شور او ولوله ده چه دزړه غوږونه یی اروی او قلبی سامعه خوند ځنی اخلی څوك چه دزنگل درگی درگی نلان او ددوی نڅا او ورو ورو اهتزاز دزړه په سترگه مطالعه کی یو عالم شور ما شور او په زرو زرو محزون ږغونه او زهیر فغانونه ځنی اروی پښتانه په ښو خوړ واوخوندورونگولو کښی دورجو او غوښو سره مخصوصه مینه لری او له دغه جهته دکندهار په محاوره کی دوړو هلکانو په بعضو لوپو او مجالسو کی دوی سره وایی : (اوس به با باورجی غوښی

راوړی)) زمو ب پیا وړی ادیب الفت له بدغه دوده څخه چه په هلکانو کی رواج دی دوحاالها م اخستی او پخپل کلام کی هغه داسی راوړی

دده کورته دی راځی نه خیټ رخلق هیڅکله
وریجی غوښی څوك نه مومی دشاعر په دسترخان کښی

ښاغلی الفت بل ځای ډیر شیرین تلمی اوخورا هسك او خوند ور ذومعنین یی ویلی دی .

ده فرهاد راپید اکړی دشیرین وطن خدمت ته
ده رستم دی درولی هرغلیم ته په میدان کښی

دکوردمیرمنی څخه کله کله په بی بی هم تعبیر کیده او اوس هم په پښتنو کښی دا نوم د کوردمشری ښځی دپاره دیوه اعزازی نوم او لقب غوندی ژوندی دی بلکه کله کله یوه ښځه دافتخار په توګه ځان دټوله کور بی بی بولی لنډه داچه بی بی کله داحترام دنامه په حیث دښاغلی پرځای کله دلقب په توګه او کله دمشری اود کور دمیرمنی غوندی په کور کی مستعملیږی او په روستنی معنی بی تر نورومعانی ؤ استعمال ډیر دی ښاغلی الفت دااصطلاح دپښتنی کورو او کهو لودمزدورانو په مقابله کی وروسته دلوزی اوموړ تیاد تضاد ترصنعت داسی راوړی اووایی :

غله ډیره مال یی ډیردی هرڅه ډیرور کره
مزدوران وږی دی یوه بی بی مړه ده ډیره

په پورته بیت کی دوه تضاده دبی بی او مزدور او موړ او وږی په راوړلو په ادبی قوت سره ځای سوی دی

په دی پسی وروسته بیادتاوده اوساړه تضادراوړی اووایی :

کوټه توده ده تشناب تودد ی تنور تودوی مدام
هرڅه تاوده دی دګدا برخه سړه ده ډیره

ښاغلی الفت په پورته بیت کی هغه شیان چه تودوالی یی په یوه کور کی لازم وی خو رابنه سره راوړی او ټوله یی تاوده بللی دی خو کم شی

چه حقیقتاً په هر کور کی سوړوی یعنی دفقیر او ګدا برخه هغه یی سړه بللی ده یو حقیقت اووا قعیت دی ولی دکور میرمنی زیاتره فقیر او مسجد ته سړه ډو ډۍ ورکوی اوڅو و سیی کیږی توده ډوډۍ د کوره څخه نه باسی او بی له خپله کاله څخه یی بل چاته نه ورکوی.

وروسته دنوی ؤ دزاړه صنعت تضادته هم یوه باارزښته او خوږه اشاره په داسی توګه کوی چه دپښتو محاوره په یوه ښکلی اوخوندوره ادا پکښی ر اوړی اووایی.

کوریی دی نوی کالی نوی دی موټر نوی دی
فکریی زوړ دی خیال یی زوړ آرزو زړه ده ډیره

په اخر کی تردغه عنوان (بډای) لاندی وروستنی بیت داسی وایی

په یوه سوی مړی خدای نه جنتو نه غواړی
له ده سره د آخرت برخه وړه ده ډیره

په پورته بیت کی سوې مړۍ یاسوې ډوډۍ یاسوې ګوله دپښتو مشهوره محاوره ده پښتانه وایی «پلانی دخدای پر نام یوه سوۍ ګوله نه ورکوی» ښاغلی الفت دیوې خوا دامحاوره پرخپل موقع په خوراښه توګه راوړی ده او له بلی خوا یوه ضمنی اشاره هغه مقدس کلام ته ځنی معلو میزی چه فرمایی:

«لن تنا لوا البر حتی تنفقوا مما تحبون» قرآن کریم.

(نور بیا)

لیکونکی: اسلانوف په مسکو کښې د پښتو استاد.

مترجم محمد شنواری

د افغانستان د ملي ژبې جوړیده او انکشاف

د ملي ژبو جوړښت چه د قومونو په تشکیل او پر مختګ پورې په دایمي صورت اړه لري یو مشکل حرکت او غیر بسیط جریان دی، د احرکت په خپل ذات کښې ډېر نظري او عملي اهمیت لري او زده کړه ئې د هر چا یعنې د ژبپوهانو، د ژبو د مورخینو، د انسان پېژندو نکو او ادیبانو د پاره ضروري او مهمه ده.

په دې لسو وروستیو کلونو کښې شوروي فلالوجستانو د ملي ژبو د جوړښت او تشکیل په میدان کښې ډېر کار کړی دی او د اموضوع ئې پوره تعقیب کړی ده، د املي ژبې چه کار په کښې شوی دی یو از ی د شوروي د خلکو ملي ژبې نه دی بلکه د خارجي قومونو ملي ژبې هم پکښې شاملې دي.

د یو ملت د ژبې د انکشاف او جریان زده کړه مشکل سوال دی مګر د یورپ د ځینو ژبو په متعلق چه غنې میراث لري او د پخوانیو او منځنیو پېړیو تحریري اثار ئې موجود دي او هم ئې د لهجو په ساحه کښې اوس او پخو اکار شوی دی لکه روسي، جرمني، انګلیسي، فرانسوي او ایټالوي ژبې شوې بیا دغه سوال اسان دی، د ایشیا ځنې ژبې چه پورتنې صفات لري لکه چینې او جاپانې ژبې د هغو سوال هم اسان دی خو نوري ژبې چه دا رنګ نه دي د هغو د انکشاف او جریان زده کړه څه سخته غوندې ده

ځيني عوامل دي چه دژبو مسئله ئې لا سخته کړي ده چه هغه يو ملت په دولتي کرښو سره په دوه يا درې برخو تجزيه کول اوويشل دي چه داکار له پښتنو او د دوي دژبې سره بيخي سمون خوري.

دتېرو پنځه ويشتو کلونو په مود کښي چه زه د پښتنو فولکلور او ادبيات زده کوم، د پښتو لويه ډکشنري ترتيبوم، ګرامر ئې ليکم او هم د تدريس په کار ئې بوخت يم زما زړه وغوښتل چه دافغاني ملي ژبې دجوړښت او تشکيل دمسايلو او پرابلمونو په باره کښې هم مشغول شم، ددې کار ابتدائي نتايج ما په مختصر ډول سره په هغه کتاب کښي چه (دلومړنۍ اسياخلک) نومېږي ليکلي دي او هم مې په پنځه ويشتم بين المللي کانګرس کښې چه د ۱۹۶۰ کال داګيست په مياشت کښې په مسکو کښي جوړ شوي ؤ (د پښتو دملي ژبي د تشکيل تاريخي شروط او ځنې عوا ملو) تر عنوان لاندې توضيح کړي دي.

زمادا اوسنۍ مقاله په اساسي ټکورڼا اچوي او دمسايلو ځنې ډير سخت اړخونه را برسيره کوي. ددې مقالي په ليکلو کښي ما دځينو افغاني ليکوالو د اثارونه استفاده کړي ده چه په لومړي وار کښې دافغانستان دمشهور ليکوال او عالم کل پاچا الفت او د پښتو داکاډيمۍ د رئيس پوهاند صديق الله رښتين آثار دي.

پخواله دې چه دمقالي په اصل موضوع بحث شروع کړم بايد دوه سواله چه مهم دي مخکښي کړم: لومړي داچه بايد پوه شوو چه ملت يا قوم وار دواره نه جوړيږي لومړي په اقتصادي، سياسي او کلتوري مرکز کښې دملت يا قوم زړي زرغونيږي بيا په تدريج سره نژ دې او ورپسي لري ساحي ورسره ضم کيږي چه په دي شان دملت تشکيل منځ ته راځي، دوهم داچه دافغانستان په شرطونو کښې دولتي ژبي دقوم په

تشکیلیدلو کښې کوم اهمیت نه در لود بلکی اجتماعی او اقتصادی عواملو پکښی اهمیت درلود.

دهمسایه مملکتونو د روابطو تاثیر باید نفی نه شی مګر نه دو مره چه دافغان ملت انشکاف د نور وهمسایه ګانو فوق العاده تاثیر ته منسوب و بلل شی لکه دا کارچه د (ریسنیر) په مقاله کښی شوی دی، ریسنیر په خپله مقاله کښې په دی زور اچولی دی او د نورو د تاثیر یو دلیل دا بولی چه دډیر وخت په جریان کښی دافغانستان رسمی ژبه تاجیکی وه مګر دا خبره سمه نه ده افغان ملت د نورو د تاثیر لاندې نه دی راغلی ځکه دافغان ملت د کلتور زده کړه دا ښکاره کوی چه دا ملت خپل مستقل ملی خصوصیات او جلا خواص او ممیزات لری چه د نورو تاثیر په کښی ډیر نه لیدل کیږی، مشهور شوروی موزیک پوهاند پروفیسر بیلیایف په خپل هغه کار کښی چه دافغان د ملی موزیک په بار کښی ئې کړی دی داسی لیکی: چه دا قوم خپل ملی مستقل موزیک لری.

هر قوم چه په خپلی ملی ژبی ګړیږی مخ په وړاندی ځی که څه هم ژبه ئی دولتی نه وی. مګر که دولتی شی نو دا کار د دغی ملی ژبی دانکشاف سره کومك کوی، هغه کار چه په دی ژبه کښی روان وی هغه تیز وی او د ملی کلتور هغه ماحول ته چه ژبی سره کلك ارتباط لری لکه بدیعی ادبیات، مطبوعات، تیاتر، رادیو، سینما، مکتب او موزیك شول پوره وده او مرسته ورکوی له دی کبله ویلی شو چه د دولتی ژبی په حیث د بلی ژبې وجود د ملت او قوم دانکشاف او پرمختګ په لاره کښی خنډ نه شی اچولی مګر بی تاثیره هم نه پاتې کیږی.

دهغو علتونو له جملی څخه چه دافغان ملت د تشکیل او پرمختګ

مخه ئی نیولی ده یوئې په (۱۹) قرن کښې ددغه ملت تجزیه او په دوه برخو ویشل دی چه دا کار دانګلیس داستعماری او عالم ګیر سیاست نتیجه ده، د دوو جنګونو نه وروسته په ۱۸۹۳ کال کښې انګلیسانو ددیورند د قرار داد په اساس افغانستان ددریاب داستفادی نه محروم کړاو یوه برخه ځمکه ئی ورنه جدا کړه او هم ئې داسی لو به او مسئله جوړه کړی ده چه په دې وروستیو شپاړسو کلونو کښې ئی دافغانستان او پاکستان او ضاع او مناسبات خړ پړ او کلوړه کړی دی .

د ۱۹۱۹ کال نه وروسته چه افغانستان خپلواکی ته (چه ددوه انګلو افغان جنګونو په نتیجه کښې ورنه اخیستل شوی وه) ورسید په دغه هیواد کښې دملی اقتصاد جریانات چټک شول او فیئو د الی کارونه مخ په ضعف شول .

په دې وروستیو دیرشو کلونو کښې دشخصی اوسهامی پانګو انکشاف، دښارونو وسعت او دمملکت عام اقتصادی ژوند سره داطرافی خلکو اشنا کېدل ددې باعث شول چه په اوسنی وخت کی د پښتنو پخوانی تاریخی دوره له منځه لاړه او نوی کاپیتالیستی دوره ئی شروع شوه

د داسی اقتصادی او کلتوری مهمو مرکزونو لکه قندهار او کابل دنفوسو زیاتوالی په ډېرې چټکی سره روان دی، په دی وروستیو پنځه ویښتو کلونو کښې د کابل داوسیدونکو شمیر له یولک اوشلو زرونه دری لکو او لسو زرو ته رسیدلی دی یعنی تقریباً دری چنده زیات شوی دی او د کندهار اوسیدونکی له شپیتو زرونه یولک او پنځه نوی زرو ته رسیدلی دی یعنی څه دپاسه دری چنده زیات شوی دی (د ۱۹۵۸ کال احصائیه). دمملکت دعام اقتصادی جریان دکاروان سره داسی لری او ګوښه دری لکه دکونړ او اریوب دری سمی روانی شوی

دی، داریوب (ځائیو) په باره کښې افغانی لیکوال محمد حکیم اریوبی لیکی: داریوب اوسیدونکی قوم ځائی پخوا پوونده وو کسب ئی مالداری وه مگر د ۱۹۱۹ کال نه وروسته د دغه قوم ډیر و نمایندگانو دلرگیو او ځنگلونو په تجارت شروع وکړه چه کابل ته دیوی لویی حصی ځائیانو دانتقال او اوسیدانې یوعلت همدا دی ممکنه ده ووایو چه دافغان قوم په اوسنی وخت کښې اساساً سره جمع شوی او تشکیل شوی دی خولا نورهم ددوی دټینگوالی جریان روان دی.

دختیزو آریایی ژبو په منځ کښې پښتو ترټولو لویه اووسیعه ده په دی ژبه ترڅو رلسو (۱) ملیونو زیات خلک گډیږی، ددې خلکو هیواد افغانستان او پښتونستان دی، داخلک که په افغانستان کښې اوسیږی افغان ورته وایی او که دپیښور او ډیره اسمعیل خان په ولایتونو او دبلوچستان په شمالی ازاد وسیمو کښې چه دافغانستان په اوږدو کښې پراته دی اوسیږی پښتانه ورته وایی.

دبونیر په سیمه، دپیښور په حوزه اودسوات اودیر په نوابیو کښې دیوسف زی قومونو گروپ اوسیږی چه تعداد ئی اته لکه خلک دی دمومند وقوم چه شمیرئی ددری لکو په حدودو کښې دی په دری برخو ویشل شوی دی لومړی برخه ئی دافغانستان په ننگرهار کښې او سی دوهمه برخه ئی ازاده خاوره ده اودریمه ئی دپیښور په ناحیه کښې واقع ده. خلیل چه دوی هم دپیښور په سیمه کښې اوسیږی مومندو ته په لهجه او قوم کښې ورنژدی دی.

دشینوارو قوم په دوه برخو ویشل شوی دی یوه برخه ئی دافغانستان په خاوره کښې اوسیږی او بله ئی دپښتونستان له حواشیو څخه ده.

(۱) زمونږ په عقیده دپښتو ژبی ویونکی اوس شلو ملیونو ته رسیږی (رشتین)

دمومندو ښه سويلي خواته دخيبر ددري په سيمه کښي داپريديولوي قوم پروت دي د دي قوم تعداد دوه نيم لکه دي، دوي سره دجنوب له پلوه ورکزي همسايه گان دي چه دوي هم دوه نيم لکه خلك دي.

دختکو قوم چه دافغان په تاريخ کښي شهرت لري دا باسين په ښي غاړه پروت دي، ددوي شمېر درې سوه زره دي، ددوي سره په خاوره اوژبه کښي نثر دي خلك بنوڅي دي.

وزير او مسعود دوزيرستان په پراخۍ کښي اوسيږي، دوي څلور-پنځه لکه خلك دي ددوي يو تعدا دخلك دنورو پښتنو قبايلو غوندي په افغانستان کښي اوسيږي. دپښتنو اقوامو په ډيرلوي کروپ دوراني کښي بارکزي، پوپلزي، الکوزي، اڅکزي، نورزي، اسحاق زي او علي زي ورگډيږي، داخلك دوه مليونه دي، داگروپ د افغانستان په لويديزه برخه کښي اوسيږي، دوراني دافغانستان په ټولو ښارونو کښي ځاي لري، دوي دمملکت په دولتي چوکيو او عسکري بستونو کښي مهم رول لوبوي، داڅکز يو يوه برخه دبلوچستان په شمال کښي اوسيږي.

بل مهم گروپ دغلجي قومونو دي، ددوي تعداد يو نم مليون دي، دوي دکندهار دساحي نه نيول تر دنورستانه پوري اوسيږي، ددوي يوه برخه کوچان دي چه په ژمي کښي کوزي پښتونخوا ته ځي.

دکاکړو قوم دهغو ځمکو په جنوب کښي اوسي په کومو کښي چه دوراني اوسيږي اوهم دبلوچستان په شمال کښي ميشته دي.

سافي قوم په ننگرها کښي اوسيزي اوزورئي په دغه ځاي کښي دي. ځاځيان، منگل او ځدراڼ دپکيتا په ولايت کښي اوسيږي داولايت پخوا جنوبي ولايت نوميده.

برسېره په دغو پورته قومونو نورډېر پښتانه قومونه او اولسونه شته پښتانه دافغانستان دټولو اوسیدونکو به نسبت په سلو کښې شپېته دی او اکثریت لری.

کوچانو کلیوالی ژوند ته ترجیح ورکړی ده او داد انتقال دوره روانه ده، د زراعت دښه سیستم اووچو ځمکو ته دویالو ورګرځولو له کبله نوی د کروندی ځمکی منځ ته راغلی دی.

ډېرو قومی خلکو خپلی اصلی ځمکی چه خو پېړی ورکښې اوسیدلی دی پریښی دی ښارونو اویا نورو سیمو ته تللی اوهلته میشته شوی دی دځمکو لږوالی ډېر پښتانه مجبور کړی دی چه ښارونو ته لاړ شی او هلته لاس مزدری وکړی ډېر اطرافی خلکه په ښارونو کښې د تعمیراتو د کارخانو او فابریکو په کارونو لګیادی، د مملکت په شمالی برخه کښې د پنځه ویشتو کلونو راهیسی د پمبی دانکشاف له کبله د قندوز ښار په نوی ډول جوړشو، په دی وروستیو کلونو کښې دی ښار نور هم انکشاف او وسعت وکړاو اهمیت ئی زیاد شو دی، دا ښار د شیرخان د بند رسره چه د شوروی اتحاد په کومک اباد شوی دی نژدی واقع دی د ښار ډېره لویه برخه پښتانه دی چه دزا خپلو، ناصرولو دیانو، اتمانزیو، خروټی او ددوتانیو له قومونو څخه دی ناصر او خروټی د تل د پاره مالدار وو او کوچانی ژوندئی درلود مګر مونږ وینو چه کوچی پښتانه قومونه اوس دانتقال په حال کښې دی د کوچانی ژوند نه کلیوالی ژوند غوره بولی او د ښارونو هستوګنی ته راجع لېدل کېږی، څه رنګه چه د قندوز نفوس مختلف خلک دی او هر قوم لکه تاجک، اوزبک تر کمن او نور پکښې اوسیږی نو په پښتو ژبه کښې نور لغات هم راننوتی دی مثلا افغانی لیکوال نظام الدین تهذیب په خپلی هغی مقاله کښې چه د (قندوز سره

اشناشی ء) تر عنوان لاندې ئې لیکی ده او د ۱۹۵۹ کال د کابل مجلی په ۴۷۸ گڼی کښی چاپ شوی ده داسی لیکی : چه دقندوز پښتانه جالې ته قایق وایی حال دادی چه پښتو خپل لغت ورته لری، د تر کمنانو سره دمجاوری اوراشه درشه له لاری نه د مملکت په شمالی برخه کښی په پښتو کښی د (دشلمه) کلمه استعمالیږی .

د پکتیا خلک چه د مملکت اقتصادی ژوندسره اشناشوی دی د کابل په لور د دوی انتقال او مهاجرت لیدل کیږی او د ځنگل اولر گیو تجارت کوی مثلا په کابل کښی اوس څلور زره کوره ځاځیان اوسیږی چه پنځلس زره مهاجره ورنه جوړیږی .

ډنمارکی انسان پیژندونکی (فیر دیناند) چه افغانستان ته د پښتنو کوچانو د ژوند سره د اشنا کیدو په غرض تللی و داسی لیکی : دلغمان اوسیدونکی په اوسنی وخت کښی په قومی لحاظ ډیر گډوډ سره اوسیږی پخوا په دغه سیمه کښی دری گروپه اوسیدل، یو گروپ ئې په (پشیی) خبری کولی او نور دوه گروپونو ئې په ختیز آریایی ژبو پښتو او تاجیکی گډیدل مگر اوس دغه سیمه دوه ژبی سیمه حسابیږی ځکه پشیی خپل مقام دغو نورو دوه ژبو ته پریښی دی، دلغمان په غرنیو برخو کښی قومی تشکیل لا په ځای - پاتی دی مگر په هوار و حصو کښی ئې بیخی تغیر خوړلی دی نو ځکه په دغه ځای کښی قومونو کوم معین ځای نه دی اشغال کړی بلکه د قومی تشکیل په ځای کلیوالی او د کورنیو تشکیل منځ ته راغلی دی .

د سرکونو د جوړولو او د ترانسپورت د ښه والی له کبله په دی وروستیو د یرشو کلونو کښی د مملکت د اطرافو بیلوالی له منځه تللی او ټولی لری سیمی د خپلو مرکزونو سره تړل شوی دی، د شینوار و قوم

چه د کابل او پېښور تر منځه دسړک په غاړه پروت دی پخوانی جوړی کولی مگر اوس دلاریو او موټر وځخه استفاده کوی، ډیر موټرئی په لاس کښی دی چه په انفرادی اومشترک صورت ئی اخیستی دی.

عسکری خدمت اومکتب قومی او اطرافی بېلوالی له منځه وړی دی، دمکتب اوعسکری خدمت له برکته دمملکت ډیری لری او جدا سیمی دمرکزونو سره په تماس کښی دی، یوارو پائی دیپلومات په دی باره کښی لیکلی دي: دمختلفو سیمو او قومونو په منځ کښی دعسکری خدمت له برکته نژدیوالی راغلی دی ځکه عسکری دنده مختلف وگړی سره نژدی کوی اویوله بله یی گډ وی.

مونږ پورته وویل چه دپښتنو یوه مهمه برخه کوچان او نیم کوچان دی، ددې جملی نه ځینی هغه تجار کوچان دی چه هر کال په منی کښی دکوزی پښتونخا جنوبی برخوته ځی او په پسرلی کښی بېرته افغانستان ته راځی، ددی خلکو شمیر اویازر، ته رسیږی، ددی کوچانو په باره کښی معلومات ماته ډنمارکی انسان پیژندونکی فپردینا ند چه داډیر کلونه کیږی دپښتنو کوچانو ژوند مطالعه کوی راکړی دی، ددې کوچانو یوه برخه پرچون سامان کلیوته وړی اوهلته ئی په قرض اوپورسره خرڅوی.

دپښتنو په ځینو مهمو برخو کښی پښتنولی حاکمیت لری اودخلکو فیصلی او دلانجو پریکړه په همدغه شی سره راځی مثلا به تیرا، اپریدیو او نورو غرنیو سیمو کښی داکار عملی دی.

پښتو په غږونو او ځینی گرامری خواصو له مخه دختیز ایرانی ژبو په سهاکی گروپ ور گډیږی، په دې گروپ کښی برسیره په پښتو له مړوژبو نه سهاکی اوله ژوندیوژبو نه شغنانی، واخانی، اشکاشمی،

ایز گلامي او منجاني ژبي هم ورګډېږي ، دا ژبي د افغانستان په شمال ختیز او د تاجکستان د جمهوریت په جنوب ختیز کښي موجودي دي په دغو ژبو لږ خلک ګړېږي.

نوو تحقیقاتو او پلټنو پښتو دسهاکو-تخار خلکو ژبي ته ورګډه کړي ده چه دغو خلکو د میلادنه دوه پېړۍ دمخه د اوسني افغانستان شمالي برخه (باختر) اوور پسي د اوسني سیستان خاوره لاندي کړه اوروسته له دې دغو وګړو د اوسني افغانستان د جنوبي برخي او د بلوچستان له لارو دا باسیند دلاندینۍ برخي درې ته ورښکته شول اوورپسي ئې هند لاندي کړ ، ددي خلکو ژبه دسهاکو ختن دخلکو ژبي سره نژدي ده .

دومره خبره ده چه د پښتو تحریري اثار کوم چه مونږ ته معلوم دي او دسهاکو ژبه دیو نیم زر کلنۍ دورې په حدود وکښي سره بیل شوي دي نو له دې کبله دشپاړ سمي پېړۍ نه وړاندي په تاریخي پلان سره د پښتو ژبي په انکشاف درڼا اچولو امکانات نشته(۱) یوازي د پښتو دګر امري او دلغاتو د آساسي پانګو مقایسه ئي دنورو ختیزو ایراني ژبو سره امکان لري .

باید په دې هم پوه شوو چه له ډیر وخته راهسي پښتانهٔ له نورو همسایه قومونو سره راشه او درشه لري چه دې کار بې شکه په پښتو ژبي تاثیر اچولي دي چه دټولو نه لومړي دا تاثیر په لغاتو کښي حس کیږي . (نور بیا)

---

(۱) دا میر کروړ داشعارو او دپټي خزاني د پیدا کېدو له برکته د پښتو ژبي ادبي تاریخ تراتمي پېړۍ پورې رسیږي او نوي امکانات بې د تاریخي پلټنې د پاره پیدا کړل (رشنین)

د محمد ګل مومند غمجنه مړینه

لکه چه ګران لوستونکی خبر دی د زمری د میاشتی په ۲۷ نیټه د پښتنی دنیا یو ستر شخصیت اروا ښاد محد ګل مومند له دی نړۍ څخه ستر ګې پټی کړې او د خدای د رحمت ابدی عیږې ته وسپارل شو.

مونږ غواړو وچه د کابل په مجله کښی دده د ژوند پیښو او علمی او ادبی خدمتو نو په باره کښی خپل معلومات ګرانو لوستونکو ته وړاندی کړو او په دې وسیله د ده د ستر و کارنامو یوه لنډه غوندی یادونه وکړو.

ژوند پښی: اروا ښاد محمد ګل مومند د محد خورشید خان غونډمشر زوی، د مومن خان نمسی د عبد الکریم خان کړوسی، په خټه د ویزی مومند او په د ویزو کښی حسن خیل وه.

دی په ۱۲۰۳ هـ ق کال د کابل د اندرابیو په کوڅه کښی زیږیدلی دی.

لومړنی زده کړه یی په خصوصی ډول وکړه او بیا په ۱۳۲۷ هـ ق کال د حربی ښوونځی په دوهم ټولګی کښی شامل شو. په پنځه کاله کښی یې خپل حربی تعلیم سر ته ورساوه او پس له هغه دار دلانو په غونډ کښی د کومیدان په رتبه وټاکل شو. د غه وخت یې هم شاړهی ټولګی ته درس ورکاوه او هم یې د حربی ښوونځی د سر معلمی وظیفه چلوله. د دغه کامیاب خدمت په نتیجه کښی د

سپاسالار صالح محمد خان دیاور په صفت وټاکل شو او بیا د شاهی گارد قوماندان شو . څه وخت یې په ترکیه کښې د افغانی سفارت د نظامی اتشه په حیث هم خپله وظیفه اجراء کړی ده .

ده د هیواد د خپلواکۍ په جګړه کښې هم پوره برخه واخیستله او خپله پښتنی میړانه یې څرګنده کړه، په ۱۳۰۳ ش کال کښې د پکتیا د عسکری قوماندان او اعلی حاکم په توګه وټاکل شو .

په ۱۳۰۶ کال کښې د مزار شریف د ملکی پلټنې د ریس په صفت او بیا د ننګرهار د عسکری قوماندان په حیث مقرر شو . د ثور د انقلاب په وخت کښې یې لومړی له سردار محمد هاشم خان سره او بیا یې په پکتیا کښې له اعلیحضرت محمد نادرشاه شهید سره په کلکه ملاوتړله او په زړه پوری خدمتونه یې سرته ورسول . د هیواد د نجات نه وروسته د سردار محمد هاشم خان په کابینه کښې د داخلی د وزیر په توګه وټاکل شو . دغه وخت د اعلیحضرت محمد نادر شاه له خوا لومړی د ننګرهار او بیا د پروان او کاپیسا د ولایتونو د تنظیمیه ریس په توګه مقرر کړی شو .

په دغو ولایتونو کښې یې چه پوره ارامی او کلاری راوستله نو بیا په ۱۳۱۱ ش کال کښې د کندهار او فراه د ولایتونو د تنظیم د پاره ولیږل شو په ۱۳۱۲ ش کال کښې د قطغن، بدخشان ، مزار شریف او میمنی د ولایتونو د تنظیمیه ریس په حیث وټاکل شو . په هر ځای او هر کار کښې یې خپله وظیفه په پوره ایمانداری سرته ورسوله او د خپلو ښو خدمتونو په اثر یې د لمړاعلی لوړ نشان واخیست .

دی په ۱۳۱۹ ش کال کښې د دولت د وزیر په توګه مقرر شو او پس له دغه وخت نه یې نورعمر په خپل کاله کښې د پښتو ژبې په علمی او

ادبی خدمت باندی تیر کړ.

بناغلی محمد ګل مومند په (۱۳۳۴) کال کښی دلویی جرګی در ئیس د نایب په توګه غوره کړی شو او خپله پښتنی وظیفه یی په ډیر ښه ډول سرته ورسوله.

اروا ښاد محمد ګل مومند تر ۱۳۳۷ش کال پوری دمزار شریف په (ایبکو) کښی اوسیده. بیا په دغه کال دغازی شاه محمود خان د صدارت په وخت کښی کابل ته راغی او پاتی عمر یی په کابل او ننګرهار کښی په خپله خوښه تیرا وه.

څوژمی یې دکونړ په نرنګ کښی اونور ژمی یې په خپل اصلی ځای (ګولایي) کښی تیره کړل. خو په اوړی کښې به همیشه کابل ته راته او په دې ډول یې دخپل کوچانی ژوند سلسله هم ټینګه ساتله.

وفات او مړینه: دغه ننګیالی توریالی خبر لوڅ او جر ګه مار پښتون اخرد ۱۳۴۳ کال دزمری د میاشتی په ۲۷ نیټه دسی شنبی په ورځ دسهار په اتو بجو د ۸۰ کالو په عمر دبریکوټ په یو کرایې کور کښی وفات شو او په پوره درناوی اوعزت دکابل دشهدای صالحینو په هدیره کښی خاورو ته وسپارل شو.

داروا ښاد محمد ګل مومند دجنازې په مراسمو کښی دکابل لوی لوی خلك ملکی او عسکری مامورین او نور ډیر علاقه مندان شامل شوی وو.

کله چه دی په ډیر درناوی خاورو ته وسپارل شو نو لومړی مولانا ارشاددده لنډه ژوند پیښه بیان کړه اودده لوړ شخصیت اود هیواد د پاره یې دده خالصانه خدمتونه وستایل. ورپسی ما په یو څو ټکو کښی دده عسکری، سیاسی، علمی او ادبی مقام ته ګوته



په بریکوټ کښې د مرحوم مومند هغه کرایی کور چه ده پکښې ساور کړی ده

ونیو له او په لنډو جملو کښې مې وویل: چه محمد ګل مومند د دې عصر خوشحال خټک ؤولی چه دی هم دهغه په شان د تورې او قلم خاوند د سیاست د میدان پهلوان او یو غښتلی عسکر او جنرال ؤ. په اخر کښې مې د عبدالقادر خټک له دې بیت څخه چه د خپل ننګیالی پلار په ویرنه کښې یې ویلی ؤ د پورته تشبیه د کاملیدو پوره فایده واخیستله:

چه چراغ د هنر ځمکې پوشیده کړ
که یې زه په اوښکو ډوبه کړم سزاده

د ډاروا ښاد محمد ګل مومند رسمی فاتحه د پوهنې د وزارت له خواداسد په ۲۸-۲۹ د شیر پور په لوی جماعت کښې واخیستله شوه. دغې فاتحې ته اعلیحضرت معظم همایونی هم تشریف راوړی ؤ او دهغه ورور محمد کریم خان او وراره محمد پټنګ ته یې خپله پوره همدردی څرګنده کړه.

د ده اخلاق او شخصیت: د اهر څوك منی چه ارواښاد محمد ګل مومند د یو لوړ شخصیت سپیڅلی کریکټر او کلك عزم خاوند ؤ په مذهبی اصولو ټینګ ولاړ او په پښتو او پښتونوا له بیخی مین ؤ. د پښتون له تاریخ او عظمت سره یې بې اندازی مینه لرله، بې پښتو او بې همته پښتانه یې نه خوښیدل.

د ښو خو یونو او پښتنی اخلاقو په جامه ښایسته ؤ د ده مجلس او مرکه د پښتو او پښتونولی یوه لویه مدرسه وه. ده به تل پښتنو ځوانانو ته د پښتنی خو یونو سپارښتنه کوله. بې پښتو ګی یې بده ګڼله د ده په وجود کښې عسکریت، سیاست، علم او ادب ټول یو ځای شوی وو او په دغو ټولو برخو کښې یې عملی برخه اخیستی وه او په دغه سبب په هیواد کښې د یو ستر ملی شخصیت په صفت پیژندل شوی دی.

ښاغلی محمد ګل مومند دیوې نه بدلیدونکی عقیدې خاوندؤ، په سختۍ او نرمۍ په خزان او بهار یعنی په هر وخت او هر حال کښی په خپل هوډاو ننګ، پښتو او پښتو نواله لکه غرټینګ ولاړ ؤ ده لکه د تیرو ننګیالو پښتنو په شان د پسیو په ځای قصی ګټلی او په دولت او پیسو پسی دو مره نه ګرځیده.

داوجه وه چه په کابل کښی به تل په کرایی کور کښی اوسیده او تر مرګه پوری په کابل کښی د کوم کورګی خاوند نه شو. تر دې چه سایې هم د بل په کور کښی وختله او همد اخبره دده لوی افتخار او امتیاز ګڼل کیدای شی.

ښاغلی مومند سر بیره په نورو صفتونو یوز بردست خطیب او مقرر هم ؤ. دده په ویناوو او خطابو کښی پوره فصاحت، زیات جرائت او قوی منطق موجود ؤ. ده په هر وخت او هر موقع کښی له اخلاقی زړور تیا نه کار اخیست. او هیڅ کله یې له حقی وینا څخه مخ نه دی اړولای.

د دغه لوی شخصیت او څرګند مقام له کبله د «بابا» په لقب یادیده او هر چاورته د بابا توب حیثیت ورکړی ؤ.

علمی او ادبی خدمت:

اروانباد محمد ګل مومند سر بیره په سیاسی او عسکری خدمتونو په علمی او ادبی برخه کښی هم پاخه اساسونه ایښی دی او د پښتو ژبی دژوندانه د پاره یې غټ غټ کارونه سر ته رسولی دی.

کوم وخت چه دی په کندهار کښی تنظیمیه رئیس ؤ، نو هلته یې داعلیحضرت محمد نادرشاه شهید په اراده په ۱۳۱۱ش کال کښی د پښتو انجمن لومړۍ تیږه کښیښوده، چه بیا همدغه انجمن کابل ته راوغوښتل شو، او د کابل له ادبی انجمن سره یو ځای شو او وروسته ورنه پښتو ټولنه جوړه شوه.

ده په کندهار کښې رسمي. دوترونه هم په پښتو اړولي وو؛ چه بیا وروسته دغه لار چاټینګه نه کړی شوه.

ده په کندهار کښې ډیر ځلمیان ور وزل او د پښتو د خدمت میدان ته یې راوویستل. د کندهار طلوع افغان هم د ده په امر په پښتو اوښتی دی. د ده نیت او ارا دې په ډیر وو ختونو کښې د پښتو له ژوند او پر مختګ سره زیاته مرسته کړی ده او تل یې د پښتو د لوړتیا ارزو په رسمي او شخصي ډول په ښه شان پاللی ده.

د ده لو مړنی علمي خدمت له پښتو سیند څخه شروع کیږی د دې قاموس د لیکلو د پاره یې د لغاتو په راغونډ ولو له ډیر پخوا څخه لاس پوری کړؤ خو د کتاب په شکل په ۱۳۱٦ ش کال د کابل په عمومي چاپخانه کښې چاپ شو. دغه قاموس دوه ټوکه دی او ټول مخونه یې (۷٦۵) ته رسیږی.

په دې قاموس کښې ډیر زیار ویستل شوی دی او په پارسي باندی د پښتو یو مشهور قاموس ګڼل کیږی.

د پښتو ژبې د بنسټ د ټنګولو د پاره د ده بل لوی علمي خدمت د «پښتو لیار» جوړول دی.

د پښتو لیار د پښتو ژبې یو نوی ګرامر دی، چه په پښتو ژبې لیکل شوی او په ۱۳۱۷ ش کال په لاهور کښې د ښاغلي عبدالعظیم صافي په اهتمام چاپ شوی دی. د پښتو ژبې لیار یوه ډیره خوږه او په زړه پورې مقدمه هم لری چه د هر پښتون زړه وربا ندی خوږ یږی.

په دې ګرامر کښې داسې ډیرې نوې څیړنې راغلی دی چه په پخوانو ګرامرونو کښې نه وې. په اخر کښې د مصدرونو یو کامل فهرست هم لری ټول مخونه یې (۴۰۰) ته رسیږي.

د ښاغلی مومند بل خوږ او خوندور اثر (لنډ کی پښتو) ده چه په ۱۳۲۷ ش کال د پښتو ټولنی له خوا چاپ شوې ده او نزدی (۵۲۷) مخونه لری .

په دې اثر کښی د پښتو او پښتو نو لی ښیکنې په ډیر ښایسته او سپیڅلی رنګ کښی بیان شوی دی چه د پښتو وظیفات ورته ویلای شو.

ارواښاد مومند ځینی نور کتابونه هم لیکلی دی، خو تر اوسه پوری په قلمی شکل کښی پاتی دی او چاپ شوی نه دی چه نومونه یی دادی :

۱ - پښتنی روزنه .

۲-پښتو پښتو نواله .

۳-د پښتو لویه نحوه (معانی او بیان) .

۴-د پخلی کتاب چه (۴۰۰) مخه لری او نور ...

د پښتو مینه: ښاغلی مومند له پښتو او پښتو نو لی سره ډیره زیاته مینه درلوده، دده په مرګه او مجلس کښی به بی له پښتو څخه بله خبره نه وه دهر ځای او هری سوې پښتون چه به دده ځای ته ورغې، نوده به ورسره خامخا د پښتو په شاو خوا کښی خبرې کولې . دسوچه پښتو کلك ملګری ؤ ، دده په وړاندې به چه چاد بلی ژبی ټکی په پښتو کښی راووړ، نوده به سمد لاسه و رباندی غږ وکړ چه پوه نه شوم ، څه دی وویل که چا به خپله غلطی سمه کړه نو په درنه لهجه به یې وویل چه ها خدای دې وبښه! څنګه ښه پښتو دې وویله اوس پوه شوم

د پښتو د لغاتو څیړنه او پلټنه دده لویه مشغولاوه . ده به همیشه له کلیو الو پښتنو څخه د نااشنا لغاتو پوښتنی کولې قلم او کاغذ به ورسره تل په خوا کښی پراته وو، چه نوی لغت به یی واوریده هغه به

یې ولیکه. ګډوله اوکړ کیچو پښتو یې نه خوښیدله. چاچه به له پښتو سره بې پروایی کوله هغه ته به یې په ښه نظر نه کتل. ده د نویو لغاتو په جوړولو کښې پوره ملکه درلوده او ډیر نوی لغات یې جوړ کړی دی چه اوس یې بیخی رواج موندلی دی اوعام شوی دی لکه: خج = دفشار اواز. دژبی لیار = قانون. وتوځی = مخرج. ننوتوځی = مدخل ایرنګی = خاکستر دانی اونور. ...

خوځینی یې دسختی له کبله درواج ډګر ته نه دی راوتلی، لکه اخل = ګلاس. هخوب = کلچر

ده د پښتو په لیك دود کښې هم ځینی تغیرونه راوستی وو لکه (ث) (سړه ی) خودې لیك دود هم پوره رواج ونه موند یوازې دغه (ی) په پښتو لیك دود کښې رانوتله. دده د مړینې له ورځې څخه درې ورځې دمخه زه دجمې په ورځ ورغلی وم یو څو تنه نور پښتانه هم وو په دغه ورځ هم سره ددې چه څه قدر زهیر اورنځور معلومیده خود لغاتو په پوښتنه انګیا وو قام یې رااخیستی و اونوی لغات به یې په خپله کتابچه کښې لیکل. په دغه ورځ بې له ما نه پوښتنه وکړه چه د (بی وزلی او اسکیرلی) تر منځ څه فرق دی؟ ما و ویل چه پوره بری نه پوهیږم نو ویی ویل چه دغه لغت دکند هار دی له کند هار یا نو څخه یې معنی معنی مه کړه او بیایی ماته ووایه.

دغه‌وه‌د محمد گل مومند د پښتو مینه چه تر مرگه پوری ورسره ملگری‌وه :

دښاغلی مومنو شعر : دښاغلی مومند زیات اثار په نثر کښی دی او دده زیاته توجه د نثر خواته وه، له شعر سره یې ډیره جوړه نه‌وه خو یو دوه شعرونه یې هم ولی دی چه دواړه د کابل په مجلو کښی خپاره شوی دی .

ماته یې یوه‌شعر په لاس راغی چه د یوی پښتو مشاعری په لړ کښی یې‌ویلی دی او هغه دادی :

پښتو مین په تایم که‌وم دم که نه‌وم نه‌وم
هر کله به‌دی ستایم که‌وم‌وم که نه وم نه‌وم

پښتو د بـڼ چونی یم شور به کړمه پښتنو ته
تل دوی ته په‌وینایم که‌وم‌وم که نه‌وم نه‌وم

پښتو که رانه‌لاړه، هرڅه به‌رانه تللی وی
زه بیا تالا والایم که‌وم‌وم که نه وم نه وم

درب مخ می دروړی پښتونه پښتو ټینگه کړه
زه تاته په ژړا یم که وم‌وم که نه وم نه وم

دروغ می هیڅ زده نه دی هم ټکی نه شم کولای
پښتون یم په‌ربښتیا یم که‌وم‌وم که نه‌وم نه‌وم

غلیمه ورغ به راشی چه تا سره ګڼل و شی
څرګنده در ته‌وایم که‌وم‌وم که نه‌وم نه وم

خبره د ځلمو ده چه پښتو ته ځان تکړه کړی دوی
زه زوړیم او بوډایم که وم وم که نه وم نه وم
په خټه سپین پښتون یم محمد ګل د قام خادم یم
له ستی نه اریایم که وم وم که نه وم وم
(د کابل مجله ـ سنبله ۱۳۲۷)

د نثر برخه: ښاغلی مومند نثر ته ډیر اهمیت ورکاوۀ، او هغه نثر یې ډیر خوښاوه چه د پښتو د سوچه لغاتو او خالصی محاورې په کانه به ښایسته ؤ. په نثر کښی د یو متحد ادبی سبک اود پښتو د خپل مخصوص ډول ټینګک ملګری ؤ. د پښتو ژبی لیار په سر یزه کښی یی دغه راز نثر په خپله هم لیکلی دی چه هم د معنی او هم د عبارت له مخه د پښتو یو قوی نثر دی د دغه نثر یو څو جملی دادی:

«هر څه چه دی، د ملت سعادت، سلامتیا، عافیت، راحت، عزت، ملی شته والی، هر ډول لوړوالی د ملی شئونا تو پاینه، د وطن ساتنه په عزت او هوسایی سره ژوندون، په عزت سره مړینه، او د نړی څخه په ښه نامه تګک دا ټول د ملی یوالی پورې، ملیته پورې او ملت او یوالی د ملی ژبی پورې اړه لری که ملی ژبی خلل میندہ کړ، دغه ټول خلل میندہ کوی او که محوه شوه نو ټول محوه کیږی او د دغه ملت نوم او نښه د نړی له مخی څخه ورکیږی»

له لنډ کی پښتو څخه د نثر نمونه:

پښتو خوراګړان امانت دی، چه د نیکو نونه راپاتی دی او زمونږ د نکو نو د لغوی قوت وصیت دی چه باید دغه امانت د دوست او لس د ګټی او فایدې د پاره بی له خیانته، خپلو ځامنو، نمسو، کړو سو، کودو، پردو او دهغو نه وروستو ته پر له پسی ورسوو او روغ یی ورو سپارو.

وړاندی وروسته، خواوشا، ښه او بد، ګټه او تاوان، هرڅه په پښتو راڅرګندېږی. پښتو ده چه ننګیالی نیکونه راپیژنی او هغوی ته مو رسوی. پښتو به وی چه زمونږ نمسی، کړوس، کودی او پړدی او دهغو نه وروستنی به له مونږ سره رانښلوی د پښتو نولق اثبات په پښتو سره کیږی. ددغه د پاره چه اوسنی او وروستنی پښتانه ځانونو خپلو پښتنو نیکونو ته ورسوی او ثابته کړی چی دوی په رښتیا سره دهغوی رښتیانی نمسی دی. نو ښایی د صرف، اشتقاق، داصولو په شان لفظی او معنوی بشپړ مناسبت په منځ کښی موجود وی او دغه مناسبت بی له کوم تغیر او خلله ټینګ وساتل شی، که نه په تشو دعواګانو او خوشی خبرو او پړړو، نه څوك پښتون کیدای شی او نه یی څوك پښتون منلای او ګڼلای شی (لنډکی پښتو)

دولت محمد لودین

دحبو خلك

-۳-

ولودکا هم ددغو هلکانو په ډله کښې واودنورو هلکانو په شان یې خپل سات تېراوه. مازدیگر که هرڅومره مورله تګ نه منع کاوه هرڅومره یې چه دمار نه وېراوه اودایې هم ورته ویل، که لاړې واسیل به دې ووهی، سره له دې ټولو خبرو پاتې نشو اودنورو ملګر وسره یې په هغه لو به کښې ګډون وکړ.

ماران یوازې په وښو کښی نه وو، دسابو په ځمکه کښې په شګواو په هرځای کښې به ښو ېېده راښو ېېده یوه ټوکی یووار وویل: سږ کال به دومره ماران وی چه هیڅوک به د دوی له لاسه له کوره دباندې په کښېناستو هم بریالی نه شی.

ددغه کلی په هرځای کښې یوزیات شمېر دواښو ماران وو، حتی چه د کورونو په انګړو کښې به هم لېده کېدل.

مازیګر مهال به چه هلکانو کوم لټ مار مونده کاوه د خپل سات تېری له پاره به یې په کوڅه کښې اوږد اوږد د نجونو په مخه کښې اچاوه ټولو به چغې او غالمغال کاوه مګر د کارونی یوه نفر هم حقیقتاً د وښو له مارانو څخه نه وېرېده.

(واسیل) هم د کرینی د نور وخلکو په شان دوښو له مارانو څخه

نه وپرېده ځکه دغه ماران د کورونو او اموخته خزندو په شان وو، چه هیچا ته یې زیان نه رساوه.

د دغه کال په اوړی کښې لېوانو خورا ډېره وهنه کوله، لېوان په ځنګله کښې اوسېدل، او د خلکو په ځارویو به یې غوټې کولې په دغه کال لېوان دومره بې حیا او بې شرم وو، چه په رڼا ورځ به یې هم وهنه کوله، پادوانانو او شپنو به خپل ځاروی د کورونو سره په تېره په هغو ځایو کښې څرول چه د خلکو ګڼه ګوڼه به وه او لرې ورشو ګانو ته یې د لېوانو له وېرې بوتلای نه شول هیچا ته کومه چاره نه ورتله، چه د لیوانو له شره ځانونه خلاص کړی مګر دلته نور شیان هم موجود وو، چه د دغه کلی خلک ور باندې خوشاله وو، هغه ځنګلې توتان وو په سږنۍ اوړی کښې توتانو دومره بار کړی ؤ چه د هرې ونې لاندې به تور تور توتان پراته وو، دومره ډېر به وو، چه د ځمکې مخ به ځنې نه ښکارېده وړو اوزړو چه په کروندو کښې یې کار نه شو کولای توتان به یې ټولول کله به چه نور سړی او ښځې د کروندو او کورونو کارونو څخه خلاص شول هغوی به هم په توتانو پسې وو تل په دې کلی کښې توتان دمېوې په توګه نه استعمالېده، د کرینې خلکو ته توتان غذا وه وچول به یې، ځانو ته به یې دژمی او پسرلی خوراکه پرېښوده نور به یې په نورو کلیو کښې په پیسو خرڅول.

دلته د کبانو ښکار هم رواج و، سره له دې چه روانې او به نه وې مګر خلکو به په بوی ناکو اوبو او ډنډونو کښې د کبانو ښکار کاوه، خلکو د مختلفو وسیلو په ذریعه د کبانو ښکار کاوه یوازې واسیل کبان د خنجک په واسطه نیول ځینو به د لښتو څخه ټوکری جوړې کړې وې هغه به یې داوبو په تل کښې کښېښودې او کبان به یې د نورو خواوو نه

ورته‌وروستل ، ځینو به یو ډول لوی جال جوړ کړی و ، چه یوه خوا به یې یوه نفر او بله خوا به یې بل نفر نیولې وه او کبان به یې وربانديې نیول همدا رنګه نورې نورې وسیلې لکه د امونه او نور دکبانو دښکار دپاره په کاراچولې کېدې .

په همدغه ترتیب دکبانو ښکار له اوړی څخه ترمنی پورې ادامه درلوده او دخلکو سره یې پوره مرسته وکړه چه دلوږې څخه یې وساتې . ددغه کلې خلکو سره توتانو او کبانو پوره مرسته وکړه چه دلوږې څخه وربانديې وساتل شول همدارنګه دلته دمچمچیو روزل هم رواج درلود چه شات به یې ځنې لاس ته راوړل ځینې به یې پخپله خواړه اوڅه به یې خرڅول په دغه کلی کښې هیڅوک بې کاره نه و، هرچا به یو کار په مخه کړی و، خلک په کارودومره اخته وو چه ستومانی ایستلو ته یې هم وخت نه لاره په دې ترتیب دژمی دپاره یې خپل ټول ضروری شیان تیار کړل په دغه اوړی کښې چه ټول خلک په جبو، کروندو او ځنګلو کښې په کارو فعالیت اخته وو، واسیل اوهانا به هم یو بل سره ډېر کتل ډېر کم وختونه به دوی دیو بل له لیدو څخه محروم و، نور په هر وخت کښې چه به خلک په کارو اخته وو، دوی به هم یو ځای کېدل په دغه ول کښې به یې لږ ې ډېرې دمینې خبرې سره وکړې .

زیاتره وختونه به د دوی ملاقات نا څاپی شان ښکارېده ، ځکه دوا ړه دزړو ښځو څخه و پرېدل چه زمونږ له احواله څوک خبر نه کړی . مګر په حقیقت کښې د دوی کاته او ملاقات د یو پلان له مخې و ، ځکه دوی به مازیګر یو بل ته د سبا ورځې د ملاقات ځای ښوده، ددوی دکتنو ځای به جبه ځنګل، یا کرونده وه. نورو خلکو ته دغه اوړی د پخوا نیو اوړو په شان و، ځکه هماغه اسمان هماغه

لمر او هما غه زیم او جبه ځمکه و ه چه کلو نه کلو نه یې کتلې اولیدلې وه مگر واسیل او هاناته دغه اوړی له نورو کلو څخه بیخی ډیر ښه و، ددغه اوړی هره ورځ ورته دجشن اواختر دورځ په شان وه .

دوی دواړو ته به خپل پخوانی اوړی ور په یاد شول چه هغه راباندې څنگه بې خو نده تېر شول . هغه وخت به چه دهانا موراو پلار وو، دوی به یو بل ته په غلا غلا د ستر ګو په کو نجو کښې کتل کله چه اوړی تېر شو،

دوی تر څه وخته پورې دیو بل له ملاقاته هم محروم شول،

مگر کله کله به یې سره لیده کا ته کېدل ، کله چه بیا اوړی ورسېد، ددوی اوړی د نورو خلکو له اوړو نه ډېر ښکلی اوښایسته و، ددوی اوړی داسې و، لکه اختر ... په اوړی پسې مني راورسېد یعنی د رخصتی موسم ...

«پای»

پته

غازی واټ ، شمالی برخه ، نوی ښار
کابل- افغانستان
دپښتو ټولنې درئیس
تېلفون لمبر ۲۰۳۵۰
کابل مجلې دتېلفون لمبر ۲۱۷۱۶

داشتراك بیه

(په افغانۍ)

په کابل کښې ۴۰
د هېواد په نورو برخو کښې ۴۶
زده کوونکو ته نیمه بیه :
۱- کابل ۲۰
۲- اطراف ۲۳
د باندې ملکو کښې : ۵ امریکایی ډالر
دیوی ګڼې بیه : ۴
د شپږو میاشتو اشتراك هم منل کېږي
د پښتو ټولنې د جاری حساب لمبر په افغانستان بانك
او اطرافي نمایندګیو کښې یې : ۲۱۸۷
داشتراك بیه په اداره کښې هم اخیستل کېږي

(۵۴۰)

پرله پسې ګڼه

(۷)

دولتي مطبعه

KABUL

Monthly Journal Of The Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on Literature, Philosophy, Philology, Sociology, Art and related Fields.

2 MAY - 4
Copy 0 1965

President of the Academy Pohanć Reshteen

Editor: M. Sidiq Rohi
Co-editor M. Moman Patwal
Address Pashto Academy
Kabul Afghanistan